د افغانستان اسلامي امارت

د پوهنې وزارت

د نورستان ولایت د پوهنې ریاست

د کیفیت تضمین آمریت




# د نورستان ولایت پوهنې ریاست د عملیاتي پلان د کړنو د پرمختګ د کلنی تشریحي راپور

د راپور ورکولو دوره: د ۱۴۰۳ مالي کال حمل څخه ترحوت پورې.

د مطالبو نوملړ


د ۱۴۰۳ مالي کال د کلني راپور چمتو کوونکو نوملړ ........ 1
د ولایت په هکله عمومي معلومات ........ 2
سریزه ........ 4
د کړنو لنډیز ........ 5
د پوهنې د درې ګونو عرصو پر بنسټ د عملیاتي پلان د کړنو پرمختګ ........ 9
لومړی برخه: کېفیت او تړاو ........ 9
۱: ښوونې او روزنې پروګرام ........ 9
۲: اسلامي زده کړو پروګرام ........ 10
۳: د کېفیت تضمین پروګرام ........ 11
۴: سرچینو او ادارې پروګرام ........ 13
۵: د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونو (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) پروګرام ........ 14
دویمه برخه: انډولیز لاسرسی ........ 15
۱: ښوونې او روزنې پروګرام ........ 16
۲: اسلامي زده کړو پروګرام ........ 17
۳: د کېفیت تضمین پروګرام ........ 18
۴: سرچینو او ادارې پروګرام ........ 19
۵: د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونو (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) پروګرام ........ 20
دریمه برخه: آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکې مدیریت ........ 20
۱: ښوونې او روزنې پروګرام ........ 20
۲: اسلامي زده کړو پروګرام ........ 22
۳: د کېفیت تضمین پروګرام ........ 23
۴: سرچینو او ادارې پروګرام ........ 23
۵: د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونو (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) پروګرام ........ 24
د غیر پلاني فعالیتونو او لاسته راوړنو برخه ........ 26
تحلیل او پایلې ........ 27
د پام وړ ستونزې او وړاندیز شوې حل لارې ........ 59
مالي رپوټ تحلیل ........ 60
ملپاڼې ........ 62

# د ۱۴۰۳ مالي کال د کلني راپور چمتو کوونکو نوملړ

| نوم او کورنی نوم | دنده | برېښنا لیک | ګرځنده شمېره/واټساپ | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| سید رسول (عابد) | ښوونې او روزنې آمر | نلری | ۰۷۰۷۲۷۵۶۷۵ | |
| مولوی امیر محمد (صدیقی) | د اسلامي زده کړو آمر | Amermohammad@gmil.com | ۰۷۰۵۶۷۱۵۹۷ | |
| صالح (شمس) | دبشري سرچینو او اداري آمر | Salihshsms512@gmail.com | ۰۷۹۹۶۶۳۳۱۲ | |
| مولوی عبدالسلام (محسن) | د تضمین کیفیت آمر | نلری | ۰۷۰۷۰۳۵۸۸۰ | |
| انورامین (عمري) | د راپورونو د تحلیل او توحید مسلکي غړی | anwaraminomari@gmail.com | ۰۷۰۲۱۸۳۵۶۸ | |
| وحید الله (نوری) | د راپورونو د تحلیل او توحید مسلکی غړی | nooriwaheed91@gmail.com | ۰۷۰۳۵۷۸۷۰۸ | |

د پوهنې د رئیس تائیدي

| نوم او تخلص | دنده | برېښنالیک | ګرځنده شمېر/واټساپ | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| مولوی تاج محمد (مطمئن) | د پوهنې ریاست رئیس | tajmuhammadmutmaeen@gmail.com | ۰۷۰۰۰۰۷۱۸۸ | |

## د ولایت په هکله عمومي معلومات




نورستان ولایت د افغانستان ۳۴ ولایتونو څخه یوغرنی ولایت دی چې مساحت یې ۹۲۶۶,۷ کیلو متره مربع ته رسیږي او د سمندر له سطحې څخه ۱۱۰۰ متره لوړوالې لري د دې ولایت مرکز پارون ښار دی، دغه ولایت یو مهال بلورستان په نوم یادیده؛ په شمال کې هندوکش له غرونو، بدخشان او پنجشیر ولایتونه دي، په ختیځ کې له چترال سره وصل دی، په سویل او سویل ختیځ طرف ته لغمان ولایتونه دي، او په لویدیځ کې له پنجشیر او لغمان ولایتونو سره ګډه پوله لري دغه ولایت د نښترو، څېړیو، جلغوزیو او نور ځنګلي ونو سره پوښل شوی چې ښکلا یې زیاته وي او همواري ځمکې یې کمې دي، دغه ولایت معتدله او سړه هوا لرونکې ده، چې ژمي کې حرارت درجه منفي ته هم راښکته کیږي او په اوړي کې موسم هوا ښه برابره او معتدله وي. هیره دې نه وي چې د تیر جمهوري رژیم لخوا یاد ولایت د ملي پارک په نوم نومول شوی وو.

## سیاسي وضیعت

دغه ولایت د مرکز په شمول ۱۰ اداري واحدونه لري چې پارون ښار د دې ولایت مرکز دی او ولسوالی عبارت دي له: کانتوا، واما، وایګل، کامدیش، برګمتال، نورګرام، دوآب ،وانت، مندول او مرکز پارون.

## ټولنیز وضیعت

داحصایې او معلوماتو پربنسټ د نورستان ولایت په اټکلي توګه نفوس ۱۷۲۵۲۳ تنه دی له دې جملې څخه۸۸۰۵۹ تنه نارینه ۵۱,۰۴٪ سلنه او۸۴۴۶۴ تنه ښځینه چې۴۸,۹۵٪ سلنه کیږي تشکیلوي او نورستان ولایت ټولې سیمې اطرافي حسابیږي صرف د مرکز او سیدونکي د ښاري ژوند څخه برخمند دي.

پدې ولایت کې لوی لوی قومونه ژوند کوي لکه: یعسوی، کته، کلښه، پشه یي، ګجر او پښتون چې په همدې ژبو خبرې کوي او په اداراتو کې رسمي ژبې پښتو او دري دي.

ددې ولایت اکثرخلک ٪۸۵ سلنه په اطرافو کې خپل ژوند پرمخ وړي او ددې ولایت د ښونځیو کم عمر لرونکي ۱۸-۷ کلن ماشومان ۵۴۰۵۹ تنو ته رسیږي چې٪۷٦,۷۹ تشکیلوي او۹۴۱۲ تنه نجونې ٪۵۵ سلنه تشکیلوي دمختلفو عواملو سره ښونځي ته نه ځي.

په یاد ولایت کې ۲۱٦ د عمومي زده کړو ښوونځي فعال دي چې له دې جملې څخه یې ۲۹ بابه لیسې، ۹۲ بابه منځنې ښوونځي او ۹۵ بابه لومړني ښوونځي شامل دي.

پدې ولایت کې یو باب پوهنتون شته چې د ښوونې او روزنې او شرعیات پوهنځي په کې فعاله دي او نور کوم خصوصي پوهنتون نلري

او همدارنګه یو باب ۱۰۰ بستریز روغتون جوړ شویدی چې د نورستان ولایت ولسونو په خدمت کې دی.

## اقتصادي وضیعت

که څه هم نورستان همواره ځمکې کمې لري چې تقریباً٪۶۵ سلنه خلک په زراعت بوخت دي لکه: جوار، غنم، لوبیا او الوګان او همدارنګه میوه لکه: چارمغز، جلغوزي، منې، زردالو او داسې نور.

همدارنګه د نورستان نجاران د نښترو لرګو څخه دروازې، کړکۍ، میز، چوکۍ اوداسی نورشیان جوړه وي او نور ولایتونوته یې صادره وي.
په ټوله کې د زراعت پراختیا، صنعتي فعالیتونو پرمختګ او د بازسازي او پراختیایې کارونو ته لومړیتوب ورکول د نورستان ولایت د عمده اهدافو څخه دي.

پدې ولایت کې دافغانستان بانک، کابل بانک نمائینده ګې فعاله دي او همدارنګه نورستان کې د ۷۰۰ کیلو واټه بریښنا د دولت له خوا جوړه شوې ده او هرې قریې خپله محلي بندونه جوړ کړي دي او له هغې نه استفاده کوي.

## مطبوعاتواو معلوماتي ټکنالوژي او امنیتي وضیعت

مطبوعات په نورستان کې تر اوسه کوم فعالیت نلري او همدارنګه نورستان ولایت مرکز پارون کې دملي راډیو تلویزیون نمائینده ګي بانديFM او په نورګرام ولسوالی‌کې الیناى FM فعالیت لري او په نورستان ولایت کې مخابراتي شرکتونو څخه سلام(SALAM) صرف په مرکز کې، روشن په واما او مرکز کې او افغان بیسیم مرکز، واما، برګمتال، دواب، نورګرام او دوآب ولسوالیو کې فعالیت لري او د دې ولایت امنیت الحمدالله ښه دی تر اوسه پورې کومه پیښه یا ستونزه نه ده رامنځ ته شوې.

## ورزش اوسپورټ

نورستان ولایت اوسیدونکي دنورو ولایتونو په څیر ورزش هم کوي بیا د نورستان محلي لوبو ته ډیر متوجه دي لکه: پهلواني، غشي ویشتل، کاڼي ویشتل، غورسي او داسی نور، او بین المللي لوبې لکه : کرکټ،فوټبال، والیبال او داسی نورې هم مروج شوي دي.

## سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدالله رب العلمین و الصلاة و السلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین. اما بعد:

د نورستان ولایت کلنی عملیاتي پلان د پوهنې وزارت د عملیاتي پلان موخو ته د رسیدو په پار په دریو برخو (کېفیت او تړاو، انډولیز لاسرسی او روڼ او ځواب ویونکي مدیریت) کې جوړ شویدی او د دې ولایت د مرکز، ولسوالیو، کلیو او بانډو په سطحه کې د پلي کېدو په حال کې دی، چې د پرمختګ د څرنګوالي په اړه یې د راپور ورکولو مهال ویش سره سم په کمي او کېفي بڼه منظم میاشتني، درې میاشتني او کلني راپورونه چمتو او اړونده ادارو ته استول کېږي.

د عملیاتي پلان د پرمختګ تشریحي راپور جوړولو یوازینۍ موخه د پلانونو د تطبیق او فعالیتونو د پرمختګ له څرانګوالي څخه په بېلا بېلو وختونو کې ډاډ تر لاسه کول دي تر څو د اداري بېلا بېلو برخو د لاسته راوړنو، ستونزو، ننګونو، ضعف او قوت نقطو څخه معلومات تر لاسه او د دغه نقطو په رڼا کې خپل راتلونکي پلانونه او اړوند چارو ته ښه والی ور په ګوته کړي.

د نورستان ولایت پوهنې ریاست د فعالیتونو او لاسته راوړنو د راپورونو د لیږد په دوام د عملیاتي پلان د ۱۴۰۳ مالي کال کلنی د کړنو د پرمختګ تشریحي راپور په درې عرصو کې چې پورته ذکر شویدي په رڼا کې چمتو او د حمل میاشتې څخه د حوت تر پایه پورې د اعتبار وړ دی.

نوموړی راپور د لاندې برخو لرونکې دی:

۱: د کړنو لنډیز

۲: د راپور تشریحي برخه

۳: له پلان څخه د بهر فعالیتونو برخه

۴: د پایلو او تحلیل برخه

۵: ستونزو او حل لارو برخه

۶: مالي راپور برخه

۷: معلوماتي ملپاتړو برخه

# د کړنو لنډيز

## لومړۍ برخه. کېفيت او تړاو

### ۱. ښوونه او روزنه

- د سواد زده کړې له ۱۳۳بابه کورسونو څخه څارنه ترسره شوې چې په پایله کې یې د ښوونیزو موادو پراختیا موندلې ده.
- د ظرفیت لوړونې مرکزي ټیم لخوا د پوهنې ریاست اړوند په مرکز کې ۹ تنه علمي غړو ته ۱۲ وځینی ورکشاپ او ۵۴ تنه په ولسوالیو کې علمي غړو ۸ ورځینی ورکشاپ ورکړل شو چې په پایله کې ۶۳ تنه علمي غړي روزل شوي دي.
- د نورستان پوهنې ریاست اړوند ۴۸ تنه مسلکي پراختیا غړو ته په ننګرهار ولایت کې د علمي افکارو، مسؤلیت منلو او ښه چلند په برخه کې ورکشاپ ورکړل شوی او همدا رنګه ۱۱۸ تنه نارینه او ۷۴ تنه ښځینه ښوونکي د ښوونې او زده کړې د ودې اغیزمن پروګرام تر عنوان لاندې ۱۲ ورځنۍ، ۲۱۰ تنه نارینه او ۱۰۵ تنه ښځینه ښوونکو ته د ښوونکو روزنې تر عنوان لاندې ٦ ورځنۍ روزنه ورکړل شوې ده.
- د نورستان پوهنې ریاست د ساینس مرکز علمي او مسلکي غړو لخوا د ۱۳ بابه لابراتوار لرونکي ښوونځیو څخه سروی ترسره کړې ده.
- د نورستان پوهنې ریاست صحت مدیریت لخوا په دواب ولسوالۍ کې د واش پروګرام تطبق په اړه یو ورځینی ورکشاپ ورکړل شوی دی چې په پایله کې د روغتیا په برخه کې ۴۰۰ زده کوونکي او ښوونکي له روزنې څخه برخمن شوي دي .

### ۲. اسلامي زده کړې

- په شته ډیټابیس کې ۱۵۰ تنه علماء کرام ثبت شوي دي چې له یاد علماء کرامو څخه د کمیټې له لورې آزموینه اخیستل شوې ده.
- د مدرسو فارغین په عالمیه امتحان کې ۸۸ تنه او عالیه امتحان کې ۲۱ تنه علماء کرام ثبت شوي دي.

### ۳. کېفیت تضمین

- د شهادتنامو مدیریت له لورې ۵۲۵ قطعې شهادتنامې په ګروپي او ۲۰۱ قطعې شهادتنامې په انفرادي ډول پوهنې وزارت ته د تایید او منظورۍ وروسته ویشل شوي دي.
- د شهادتنامو مدیریت له لورې ټولو ولسوالیو دولتي ښوونځیو ته ۴۴۲ سپین برې لیکونه ویشل شوي دي.
- د نورستان ولایت په کچه د پلانونو د پرمختګ او لاسته راوړونو ربعوار راپوررونو معلوماتو راټولولو په موخه د چمتو شوي فارمټ په اساس د ۱۴۰۳ مالي کال څلورو ربعو راپوررونه چمتو شوي دي.
- د پوهنې وزارت، څارنې او ارزونې ریاست د راپور ورکولو آمریت له لورې ۲ تنه ترینران د راپور ورکولو ورکشاپ په موخه نورستان پوهنې ریاست ته راغلي وو چې ۴ ورځینی ورکشاپ کې یې د راپور ورکولو په اړه یې د پوهنې ریاست ۲۴ تنه کارکوونکي وروزل.
- د نورستان ولایت په کچه د شپږم ټولګي د ریاضي مضمون د ازموینې د پارچو ارزونه د پوهنې وزارت د څارنې او ارزونې ریاست مسلکي غړو لخوا ترسره شوې ده.

### ۴. سرچینې او اداره

- د شفاف عوایدو راټولولو په برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې ترسره شوي چې د شهادتنامو، کانکور فورمونو د قیمت، مصارفاتي او معاشاتي بازګشتیانو له درکه د پوهنې ریاست مالي مدیریت له لورې ۱۳۱۸۴۴۱ (یو میلیون، درې سوه اتلس زره، څلور سوه یو څلویښت) افغانۍ عاید راټول شوی دی.
- و لایت په سطحه د املاکو په دفترونو او معلوماتي سیستم کې د ملکیت ۷ سندونه، ۹ سجلونه او مرکز پارون کې د پشکي نجونو لیسه، ډیوه د نجونو منځنۍ ښوونځی، ستیوي د نجونو او نور د هلکانو لیسې احاطې سجل او ثبت شوي دي.

### ۵. ریاست اړوند فعالیتونه

- د نورستان ولایت ته ۱۰۹۰ اوونیزې چې د پوهنې وزارت له لورې رالیږل شوې وې د ولایت په کچه ټولو ولسوالیو ته ویشل شوي دي او همدارنګه د عرفان ۲۰ ټوکه، بخوان بندیش ۲۰ ټوکه مجلې چې نشراتو ریاست له لورې رارسیدلې وې د ریاست اړوند آمریتونو باندې ویشل شوي دي.
- د نورستان ولایت کې د درسي کتابونو ویش پروګرام د پوهنې ریاست اړوند ټولو ولسوالیو او ښوونځیو په سطحه د درسي کتابونو د ویشلو مدیر په واسطه لاربښود له مخې تخنیکي کتنه ترسره شوې او همدارنګه ویش په اړه د پوهنې آمریتونو ته لازمې لارښوونې شوې دي.
- د اړونده پروګرامونو د رسولو په موخه د پوهنې وزارت د د عوت ارشاد ریاست څخه ۲ تنه کارکوونکي نورستان پوهنې ریاست ته راغلي وو چې د صورت او سیرت اصلاح الهي احکامو مطابق لارښوونې ترسره شوې.

## ۲. انډولیز لاسرسی

### ۱. ښوونه او روزنه

- د نورستان پوهنې ریاست اړوند په دولتي عمومي ښوونځیو کې ۳۱۰۱ تنه نارینه او ۲۸۲۵ تنه ښځینه زده کوونکي نوي جذب شوي دي.
- د ولایت په کچه ۱۹۵ تنه بیرته راستنیدونکي زده کوونکو او ۱۶۵تنو مجاهدینو څخه د ټولګي تثبیت ازموینه اخستل شوې ده چې په پایله کې ورته ټولګي تثبیت شوي دي.
- د نورستان پوهنې ریاست د ښاري پوهنې آمریت اړوند ۷ بابه ښوونځیو کې د څارندوی ټیمونه او د کامدیش او برګمټال ولسوالیو کې د ترافیک او اطفائیه یو یو ټیم جوړ شوی دی.
- د نورستان ولایت په کچه په ټولو ولسوالیو کې د ۵۶ مساجدو ملا امامانو، صوتي او تصویري کلیپونو د خپرولو له لارې او قومي مشرانو له طریقه عامه پوهاوی ترسره شوی دی او همدا رنګه د ټکټ موسسې لخوا بروشرونه د عامه پوهاوی لپاره نصب شوي دي.
- سواد زده کړې مدیریت له لورې د سواد زده کړې په کورسونو کې په مرکز او د ولسوالو پوهنې آمریتونو اړوند ۱۵۰۸ تنه نالوستي کسان جذب شوي دي.
- د سواد زده کړې ټولټال ۱۱۲ بابه کورسونه ایجاد شوي دي له دې جملې څخه ۱۰ بابه کورسونه د رضاکار خلکو لخوا رامنځ شوي دي.
- د نورستان پوهنې ریاست کې یو باب خصوصي ښوونځی بلورستان په نوم نوی رامنځته شوی او همدارنګه د ټکټ مؤسسې له لورې د نورستان ولایت اړوند په ۷ ولسوالیو کې ۱۰۵ بابه د لیک لوست کورسونه فعال شوی دی.

### ۲. اسلامي زده کړې

- د ولایت په کچه د اسلامي زده کړو معینیت د کړنلارې مطابق ۱۵۶ تنو حافظانو څخه د کامل حفظ ازموینه اخیستل شوې او پایلې يې بیرته د اسلامي زده کړو معینیت ته واستول شوي دي او د علماء کرامو څخه د تثبیت سویه ازموینه کې د دولسم ټولگي لپاره ۲۰ تنه او څوارلسم ټولگي لپاره ۵۰ تنو علماء کرامو گډون کړی وو چې په پایله کې یادو ټولگیو ته ور و پیژندل شول.
- د اسلامي زده کړو آمریت له لورې په مرکز او وایگل ولسوالی کې دوه، دوه درالعلومونو د اداري او تدریسي لوزامو سره تجهیز شوي دي.
- د نورستان دپوهنې ریاست د اسلامي زده کړو آمریت اړوند د مرکزي دارالعلوم او ۹ باب خصوصي مدرسو کې ۵۰۰ تنو طالب العلمانو لپاره لیلیې انتظام شوی دی.
- د اسلامي زده کړو آمریت له لورې د اختصاصي ازموینې له لارې د عالي دورې په ۱۳ او ۱۴ ټولگیو ته ۷۸ تنه طالب العلمان جذب شوي دي او د دارالعلوم په لومړنی دورې کې ۵۰ تنه طالب العلمان جذب شوي دي.
- د نورستان پوهنې ریاست اسلامي زده کړو آمریت اړوند په ۲۴ بابه خصوصي مدرسو ته موکېټ او قرطاسیه ویشل شوې ده.

### ۳. آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکې مدیریت

#### ۱. ښوونه او روزنه

- د ولایت په کچه د عمومي زده کړو ۴۲۱بابه ښوونځیو، ۴۲۴ بابه سیمه ایزو زده کړو ټولگیو، ۷۸بابه چټکو زده کړو ټولگیو او ۱۳۳ بابه سواد زده کړو ټولگیو څخه حمایوي څارنه ترسره شوې ده.
- د ولایت په کچه ۹۷۲ تنه ښوونکو، ۴۴۹ تنه مدیرانو، ۱۳۶ تنه سر ښوونکو او ۳ تنه د سواد زده کړو ټولگیو ښوونکو د تدریسي بهیر او کړنو څخه مشاهده تر سره شوې ده.

#### ۲. اسلامي زده کړې

- ولایت په کچه دخامسه درجو ۱۶ تنو او عالیه درجو ۲۰ تنو علماء کرامو ارزونه تر سره شوې ده.
- د ولایت په کچه د اسلامي زده کړو آمریت کې دوه تنو علمي غړو او ۲۰ تنو استادانو کادرونه اجراء شوي دي.

#### ۴. سرچینې او اداره

- د نورستان ولایت پوهنې ریاست اړوند بشري سرچینو مدیریت له لورې د ولایت په کچه ۸۰ تش بستونه په ډاگه شوي دي.
- د نورستان ولایت په کچه ۳۵۶۱ تنه کارکوونکي ثبت او راجستر شوي دي.
- نورستان پوهنې ریاست له لورې ۶۰ تنه کارکوونکي، ۵ تنه ښوونکي او ۳۲ تنه استادان په دندو گمارل شوي دي.
- د نورستان پوهنې ریاست اړوند ۵۱ تنه کارکوونکي د تقاعد شرایطو برابر او تقاعد شوي دي.
- د ولایت په کچه د پوهنې ریاست او اړوند ولسوالیو پوهنې آمریتونو لپاره ۳۷ ودانی په کرایه نیول شوي دي.

#### ۵. ریاست اړوند فعالیتونه

- د نورستان ولایت پوهنې ریاست په کچه ۱ولایتي او ۹ ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته عملیاتي پلانونه جوړ شوي دي.
- د پوهنې ریاست ټولو ۱۴۸ کارکوونکو ته هره ورځ د مختصر نصاب تدریس کیږي.
- د نورستان د پوهنې ریاست له لورې ۴۰ سندونه، ۲۸ دبنستیونو سندونه ترلاسه شوي او د پوهنې وزارت او اړوند معینیتونو ته دمنظورۍ په موخه ۴۵ پیشنهادونه لیږل شوي دي.

- د نورستان ولایت د پوهنې ریاست اړوند د پنځه پروژو کانسپت نوټونه ترتیب شوي له ترتیب وروسته مرکز ته استول شوي دي.
- د نورستان ولایت د پوهنې ریاست اړوند ټول هغه ښوونځي چې ودانۍ نلري په یو جدول کې یې احصایه ترتیب له ترتیب څخه وروسته مرکز ته استول شوي دي.
- د نورستان د پوهنې ریاست اړوند هغه مشورې او نظرونه چې د پنځه کلن ملي پلان تسوید لپاره غوښتل شوي وو هغه مرکز ته مکتوبې لیږل شوي دي.

## د پام وړ ستونزې

- هر کال عملیاتي پلان د مرکز له لورې ډیر وروسته را استول کیږي.
- د عملیاتي پلان په ځینو فعالیتونو کې د مسؤل اجراء برخه کې د مرکز او ولایتونو کې ټکر ( یعنې پوهنې ریاست کیفیت تضمین آمریت ته په سمه توګه نه معلومیږي چې مسؤل اجراء مرکزي مسؤلین دي او که ولایتي ) دی.
- د عملیاتي پلان مطابق د راپور ورکوونکو مدیریتونو په راپور ورکولو کې ځنډ او ځنډ رامنځ ته کوي.
- د مرکز او ولسوالیو نښلوونکې لارې نشتون او ولسوالیو لرې والی.
- د ولسوالیو پوهنې آمریتونو لپاره د انټرنیټ سهولت نشتون.
- د بودیجې کمښت.
- د کارکوونکو لپاره د ښوونیزو سیمینارونو او ورکشاپونو نشتون.

## حل لارې

- باید د نوي کال پیل څخه مخکې عملیاتي پلان را واستول شي.
- په عملیاتي پلان هر فعالیت کې باید مسؤل اجراء معلوم وي که چیرې یو فعالیت مرکز پورې تړاو لري نو کتنو یا اړوند برخو کې ورته مرکز او ولایت ولیکل شي.
- باید راپور ورکوونکو مسؤلینو ته جدي لارښوونه وشي چې په ټاکلې موده کې د فارمټ مطابق خپل راپورونه اړوند مرجعو ته واستوئ.
- د مرکز او ولسوالیو نښلوونکو لارې جوړې شي.
- د ولسوالیو پوهنې آمریتونو لپاره د انټرنیټ سهولت برابر شي.
- پوهنې ریاست ته کافي بودیجه په نظر کې ونیول شي.
- پوهنې ریاست اړوند کارکوونکو لپاره ښوونیز ورکشاپونه تنظیم شي.

# د پوهنې د درې ګونو عرصو پر بنسټ د عملیاتي پلان د کړنو پرمختګ

## لومړۍ برخه: کیفیت او تړاو

**ټولیزه موخه:** زده کوونکي به په ټولو کچو کې پوهه، مهارتونه، چلندونه او ارزښتونه چې د یو سالم، مسؤلیت منونکي، رشید، او تولیدونکي وګړي لپاره اړین دي ترلاسه کړي او هغوئ به د ټولنیزې هوساینې په بهیر کې د آغېزمنې ونډې اخیستنې او ګډون لپاره چمتو او په کورنیو او نړیوالو بازارونو کې به د خوندي او دوامداره دندې لپاره سمبال شي.

### ۱: ښوونې او روزنې پروګرام

**۱,۱ فعالیت: د مرکزي او ولایتي ښوونځیو دکتابتونونو د کتابدارانو د اړتیاوو ارزونه او ظرفیت لوړول؛**

۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې نورستان ولایت اړوند په ښوونځیو کې کتابتونونه شتون نه لري.

**۱,۲ فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د سواد زده کړو د دویمې سویې (۴-۶ ټولګي) کتابونو تجربوي تطبیق؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت ندی ترسره شوی ځکه چې د یاد تجربوي تطبیق لپاره د پوهنې محترم وزارت لخوا کوم هیئت نه دی راغلی تر څو په نورستان ولایت کې د یاد فعالیت ترسره کړي..

**۱,۳ فعالیت: د عمومي زده کړو، اسلامي زده کړو او سواد زده کړې د اړتیاوو د ارزونې موندنو پر بنسټ د ښوونیزو موادو پراختیا؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د مسلکي پراختیا غړو لخوا د سواد زده کړې له ۱۳۳ کورسونو څخه څارنه ترسره کړې چې په پایله کې یې ښوونیزو موادو پراختیا موندلې ده او عمومي زده کړو او اسلامي زده کړو څخه څارنه د بودیجې د کمښت له امله تر اوسه پورې نه ده شوې تر څو ښوونیزو مواد پراختیا ومومي.

**۱,۴ فعالیت: د ولایتونو په کچه د علمي غړو (مربیانو) ظرفیت لوړل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د ظرفیت لوړونې مرکزي ټیم لخوا ۹ تنه په مرکز کې ۱۲ ورځني ورکشاپ او ۵۴ تنه د ولسوالیو علمي غړي ۸ ورځنی ورکشاپ کې روزل شوي دي.

**۱,۵ فعالیت: د علمي افکارو، مسؤلیت منلو او ښه چلند په برخه کې په مرکز او ولایتونو کې د ښوونکو، مدیرانو او د ښوونځیو د اداري شوراګانو او علمي غړو لپاره د ظرفیت لوړولو د پروګرامونو ترتیبول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د نورستان پوهنې ریاست اړوند ۴۸ تنه مسلکي پراختیا غړو ته یاد فعالیت په اړه په ننګرهار ولایت کې ورکشاپ ورکړل شوو او همدا رنګه ۱۱۸ تنه نارینه او ۷۴ تنه ښځینه ښوونکي د ښوونې او زده کړې د ودې اغیزمن پروګرام تر عنوان لاندې ۱۲ ورځنی او ۲۱۰ تنه نارینه او ۱۰۵ تنه ښځینه ښوونکو ته د ښوونکو روزنې تر عنوان لاندې ۶ ورځنی روزنه ورکړل شوې ده. او همدارنګه ۳۱ تنه ښوونځیو مدیران او ۱۲ تنه سرمعلمینو ته د ښوونځیو مدیریت ټیم د (SMT) تر عنوان لاندې ۵ ورځنی ورکشاپ ورکړل شوی دی.

**۱,۶ فعالیت: کارکوونکو ته د جواز ورکولو د سیستم د پلی کېدو په موخه لازم چمتوالی؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې د وزارت مقام له لورې تر اوسه پورې په دې برخه کې کومه کړنلاره نه ده راغلې چې د هغې په اساس یاد فعالیت ترسره شي.

**۱,۷ فعالیت: د لابراتوارونو د اړتیاوو معلوملو لپاره سروې او په مرکز او ولایتونو کې د ترسره شوو پروګرامونو حمایوي څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې یاد فعالیت د پوهنې وزارت له لورې ترسره کېږي خو د پوهنې ریاست د ساینس مرکز علمي او مسلکي غړو لخوا د ۱۳ بابه لابراتوار لرونکي ښوونځیو څخه سروی ترسره کړې ده.

**۱،۸ فعالیت: د لابراتوارونو او کمپیوټرونو اغیزمنتوب او کارولو څخه څارنه او لیدنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې دپوهنې وزارت د ساینس مرکز ریاست څخه راغلي څلور کسیز پلاوي لخواپه مرکز پارون کې د ډیوه د انجونو منځنی ښوونځی، سټیوي هلکانو لیسه، سټیوي انجونو لیسه؛ په واما ولسوالۍ کې هلکانو لیسه او کانتوا کې شیخ ابراهیم هلکانو لیسه یادو لیسو څخه څارنه او لیدنه ترسره شوې خو د پوهنې ریاست د ساینس مرکز علمي او مسلکي غړو له لورې د مرکز پارون او کانتوا ولسوالیو کې ٦ لابراتوارونو څخه څارنه ترسره کړې چې په یاده برخه کې ورته لازمې لارښوونې ترسره شوي دي تر څو علمي ډول زده کړې وکړي او د لابراتورونو توکو او موادو څخه سالمه ګټه پورته کړي.

**۱،۹ فعالیت: د ساینس ولایتي مدیریتونو علمي غړو او لابرانت لپاره د ساینس، ریاضي او کمپیوټر برخه کې د روزنیزو پروګرامونو تنظیمول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې یاد فعالیت ندی ترسره شوی ځکه د پوهنې وزارت لخوا څوک نه دي راغلي تر څو د نورستان پوهنې ریاست اړوند علمي غړي د ساینس، ریاضي او کمپیوټر برخه کې وروزي.

**۱،۱۰ فعالیت: د مسلکي غړو له خوا په نورستان ولایت کې د ریاست د تخنیکي غړو لخوا د واش (WASH) Dewormin په برخه کې د څارندی د تروپ ګروپونو او بدني روزنې ښوونکو لپاره د سیمینارونو او ورکشاپونو دایرول؛**

د ۱۴۰۳کال د څلورمې ربعې ترپایه پورې د نورستان پوهنې ریاست کې د صحت مدیریت لخوا د واش پروګرام تطبیق په اړه دواب ولسوالۍ کې ورکشاپ ورکړل شوی دی او د روغتیا په برخه کې ۴۰۰ زده کوونکي او ښوونکي له روزنې څخه برخمن شوي دي.

**۱،۱۱ فعالیت: د ځاني ارزونې له مخې د قابلیتونو د ارزونې په برخه کې نورستان ولایت په ګډون د لازم ظرفیت رامنځته کول او د سواد زده کړې د پروګرامونو د کیفیت د ښه والي لپاره د لازمو لارښوونو ترتیبول او ملي کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د یاد فعالیت د پوهنې وزارت له لورې تر سره کېږي چې تر اوسه پورې په یاده برخه کې کوم پرمختګ نه دی شوی.

**۱،۱۲ فعالیت: د مرکز په کچه د سواد زده کړو د پروګرامونو د ښه تطبیق په موخه، د ترتیب شویو لایحو، طرزالعملونو او لارښودونو د معرفي په هکله د روزنیز ورکشاپ په لاره اچول؛**

د۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې وزارت اړوند سواد زده کړې ریاست لخوا په نورستان ولایت کې نه دی ترسره شوی خو د نورستان پوهنې ریاست د سواد زده کړې مدیریت له لورې ټولو سواد زده کړو ښوونکو ته د ښوونیز لائحه، کړنلارې او لارښود کتابونه ورکړل شوي دي.

**۱،۱۳ فعالیت: د سواد زده کړې پروګرام د پلي کولو لپاره د سرچینو تشخیص او ترلاسه کول، د دولتي، غیر دولتي بنسټونو او رضاکارانو ملاتړ ترلاسه کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې په پسرلي او مني موسم کې د نورستان خلک په مالدارۍ او دهقانۍ کارونو کې مصروف وي نو له دې امله نشي کولای چې د لیک لوست زده کړې سره په رضاکارانه ډول همکاري وکړي.

### ۲: اسلامي زده کړو پروګرام

**۲،۱ فعالیت: دارالعلوم ته د مدرسو لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې کومه مدرسه دارالعلوته ارتقاء نه ده کړې ځکه چې تر اوسه پورې یې د دارالعلوم معیار ندی پوره کړی.

**۲,۲ فعالیت: د دارالعلومونو د اداري او تدریسي چارو د بیا کتنې او ارتیاؤ معلومولو په موخه د علمي او تدریسي غړو لېږل؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې مرکز پارون کې د مرکزي دارالعلوم د اداري او تدریسي چارو څخه بیا کتنه ترسره شوې او۶ اړتیاوي ورته په ګوته شوي دي.

**۲,۳ فعالیت: په ولایتونو کې د نویو مقرر شویو کارکوونکو د ظرفیت لوړولو په موخه د لارښووني سیمینارونو دایرول؛**
د ۱۴۰۳کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د نورستان پوهنې ریاست کې د اسلامي زده کړو اړوند د نویو مقرر شویو کارکوونکو ته د ظرفیت لوړولو په موخه د لارښووني سمینارونه د پوهنې وزارت له لورې په لاره اچول ندي شوي.

**۲,۴ فعالیت: په نورستان کې د اسلامي زده کړو اړوند مدرسو او دارالحفاظونو د اداري او تدریسي کارونو د بیاکتنې او اړتیاؤ معلومولو په موخه د علمي او تدریسي غړو ورلیږل؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې مرکز پارون کې د مرکزي دارالعلوم په شمول ۱۰مدرسوڅخه د اداري او تدریسي چارو څخه بیا کتنه ترسره شوې او ۲ داني اړتیاوي ورته په ګوته شوي دي.

**۲,۵ فعالیت: په شته ډیټابیس کې د علماء کرامو د ازموینو ثبتول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې په شته ډیټابیس کې ۱۵۰ تنه علماء کرام ثبت شوي دي چې له یاد علماء کرامو څخه د کمیټې له لورې آزموینه اخیستل شوې ده ، همدارنګه د یادو علماءکرامو لپاره پوښتنې هم د نوموړې کمیټې له لورې ترتیب شوې وې او وروستی کړنو لپاره مرکز ته استول شوي دي.

**۲,۶ فعالیت: په نورستان ولایت کې د مدرسو او دارالحفاظونو استادانو ته د نویو درسي کتابونو د ورپیژندلو په موخه د ورکشاپ دایرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د اسلامي زده کړو آمریت له لورې د مدرسو او دارالحفاظونو استادانو ته دنویو درسي کتابونو په موخه کوم ورکشاپ نه دی ورکړل شوی ځکه چې تر اوسه پورې اسلامي زده کړو ته کوم نوي درسي کتابونه نه دي راغلي او نه کومه بودیجه مشخصه شوې چې یاد فعالیت ترسره کړي.

**۲,۷ فعالیت: د مدرسو فارغین په عالیه او عالمیه ازموینو کې ثبتول.**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د اسلامي زده کړو آمریت له لورې د مدرسو فارغین په عالمیه امتحان کې ۸۸ تنه، عالیه امتحان کې ۲۱ تنه ثبت شوي دي.

## ۳: د کیفیت تضمین پروګرام

**۳,۱ فعالیت: د نورستان ولایت او ولسوالیو په کچه د کیفیت لرونکو احصاییوي ارقامو راټولولو په موخه د ظرفیت لوړونې ورکشاپونو په لاره اچول؛**
په ۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې یاد فعالیت د نورستان ولایت د ولسوالیو په کچه د کیفیت لرونکو احصایوي ارقامو راټولولو په موخه د ظرفیت لوړونې ورکشاپ د مرکز څخه راغلي پلاوي لخوا په ټولو ولسوالیو کې دوه ورځنی ورکشاپ ورکړل شوی دی.

**۳,۲ فعالیت: د نورستان ولایت په کچه د ۱۴۰۲ هـ ش کال احصاییوِي ارقامو ۱۰٪ کتنه او تصدیق؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت ندی ترسره شوی ځکه چې نوموړی فعالیت د پوهنې وزارت لخوا ترسره کیږي.

**۳,۳ فعالیت: د ډیټاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰۲ هـ ش کال د احصایې ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې وزات لخوا ندی ترسره شوی.

**۳,۴ فعالیت: د ډیټاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰۳ هـ ش کال د احصایې ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛**

۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې وزات لخوا ندی ترسره شوی.

**۳,۵ فعالیت: د نویو تاسیس شویو او د تېرو کلونو د پاتې ښوونځیو د مختصاتو راټولول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې نوي تاسیس شوي ښوونځي شتون نه لري او د پاتې ښوونځیو د مختصاتو راټولول د بودیجې نشتون له امله نه دي ترسره شوي.

**۳,٦ فعالیت: د بري لیکونو/شهادتنامو ترتیب، تدقیق، طی مراحل او وېشل؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د شهادتنامو مدیریت له لورې ۵۲۵ قطعې شهادتنامې په ګروپي او۲۰۱ قطعې شهادتنامې په انفرادي ډول پوهنې وزارت ته د تایید او منظورۍ وروسته ویشل شوي دي خو ۸۸ قطعې ګروپي شهادتنامې اپلود جریان لري.

**۳,۷ فعالیت: د نورستان ولایت پوهنې ریاست ته د سپینو بري لیکونو/شهادتنامو وېشل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د شهادتنامو مدیریت له لورې ټولو ولسوالیو دولتي ښوونځیو ته ۴۴۲ سپین بري لیکونه ویشل شوي دي.

**۳,۸ فعالیت: د دولسم او څوارلسم ټولګیو د فارغانو د نتایجو جدولونو تدقیق، تطبیق او تاییدول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې دشهادتنامو مدیریت له لورې ټولو ولسوالیو دولتي ښوونځیو ۱۲ بابه لیسو جدولونه تطبیق او تائید په موخه وزارت ته استول شوي دي.

**۳,۹ فعالیت: د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو په برخه کې فردي او نهادي ظرفیت لوړونه؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د پوهنې وزارت، څارنې او ارزونې ریاست د راپور ورکولو آمریت له لورې ۲ تنه ترینران د راپور ورکولو ورکشاپ په موخه نورستان پوهنې ریاست ته راغلي وو چې ۴ ورځینی ورکشاپ کې یې د راپور ورکولو په اړه یې ۲۴ تنه د پوهنې ریاست کارکوونکي وروزل چې په پایله کې یې د کارکوونکي د راپور لیکلو، معلومات راټولولو او توحید کولو باندې مهارت ترلاسه کړ.

**۳,۱۰ فعالیت: دنورستان ولایت د پوهنې ریاست د فعالیتونو او پلانونو له تطبیق څخه ربعېواره څارنه؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې مرکز څخه راغلي پلاوي له لورې د فعالیتونو او پلانونو له تطبیق څخه څارنه ترسره شوې ده.

**۳,۱۱ فعالیت: د نورستان ولایت پوهنې ریاست اړوند د پوهنې وزارت د همکارو مؤسسو له پروژو څخه څارنه؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د پوهنې وزارت د څارنې غړو له لورې د همکارو مؤسسو له پروژو څخه د ابرار مؤسسې څخه څارنه ترسره شوې ده.

**۳,۱۲ فعالیت: د عملیاتي پلان له تطبیق څخه د څارنې او ارزونې په موخه د راپور ورکولو سیستم استفاده کول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د څارنې او ارزونې د راپور ورکولو سیستم منظم ډول استفادې وړدی ځکه چې په درې میاشتني ډول راپورونه پوهنې وزارت ته لیږل کیږي او د راپورونو څخه یې استفاده کیږي.

**۳,۱۳ فعالیت: د ۱۴۰۳ کال لپاره د عملیاتي پلان او د باثباته پراختیایي موخو پر بنسټ د ولایتونو د پوهنې ریاستونو له کلنۍ کړنو څخه د ارزونې ترسره کول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د پوهنې وزارت د څارنې او ارزونې ریاست له لورې د عملیاتي پلان او د باثباته پراختیایي مو خو پر بنسټ د نورستان پوهنې ریاست د کلنې کړنو څخه ارزونه ترسره شوې ده.

**۳,۱۴ فعالیت: د عملیاتي پلان د راپور ورکولو آنلاین سیستم پراختیا او تطبیق؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د پوهنې وزارت د څارنې او ارزونې ریاست له لورې د راپور ورکولو آنلاین سیستم فعالولو په موخه ورکشاپ ورکړل شوی خو د نورستان پوهنې ریاست د معلوماتي تکنالوژۍ کې سرور د پوهنې وزارت د سرور سره د نه وصلیدو له امله یاد سیستم نه دی فعال شوی.

**۳,۱۵ فعالیت: د چمتو شوي فارمټ سره سم، د نورستان ولایت په کچه د پلانونو د پرمختګ او لاسته راوړنو ربعېوار راپوررونو راټولول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د ولایت په کچه د پلانونو د پرمختګ او لاسته راوړنو ربعوار راپوررونو معلوماتو راټولولو په موخه د چمتو شوي فارمټ په اساس د څلورو ربعو راپوررونه چمتو شوي دي او اړوند مرجع ته لیږل شوي دي.

**۳,۱۶ فعالیت: د ښوونیز کال په پیل او پای او دوو پړاوونو کې د شپږو سړو ولایتونو په ښوونځیو کې په پرتله ایيزه توګه د دریم ټولګي د زده کوونکو د لوستلو د کچې ارزول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې ترپایه پورې د دریم ټولګي د زده کوونکو د لوستلو د کچې ارزونه د پوهنې وزارت د څارنې او ارزونې ریاست مسلکي غړو لخوا ترسره شوې ده چې په پایله کې یې راپور چمتو شوی دی.

**۳,۱۷ فعالیت: په نورستان ولایت کې د شپږم ټولګي د ریاضي مضمون د ازموینې د پارچو ارزونه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د شپږم ټولګي د ریاضي مضمون د ازموینې د پارچو ارزونه د پوهنې وزارت د څارنې او ارزونې ریاست مسلکي غړو لخوا ترسره شوې ده چې په پایله کې یې راپور چمتو شوی دی.

**۳,۱۸ فعالیت: د نورستان ولایت په کچه د تقنیني اسنادو او پالیسیو د تطبیق د وړتیا ارزونه او تجربوي تطبیق؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د پوهنې وزارت له لورې کومه پالیسي نه ده رالیږل شوې چې تر څو یاد فعالیت ترسره شي.

**۳,۱۹ فعالیت: د نورستان ولایت په کچه د تقنیني سندونو او پالیسیو په برخو کې د کارکوونکو روزل او ظرفیت لوړونه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې وزارت له لورې په نورستان ولایت کې نه دی ترسره شوی.

## ۴: سرچینو او اداري پروګرام

**۴,۱ فعالیت: د پوهنې وزارت د داخلي عوایدو په راټولولو کې زیات والی؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې دشفاف عوایدو راټولولو په برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې ترسره شوي چې د شهادتنامو، کانکور فورمونود قیمت، مصارفاتي او معاشاتي بازګشتیانو له درکه د پوهنې ریاست مالي مدیریت له لورې ۱۳۱۸۴۴۱افغانی عاید راټول شوی دی.

**۴,۲ فعالیت: د ۱۴۰۲ کال د لګول شوې بودیجې له خرنګوالي څخه څارنه او همدارنګه ۱۲ ولایتونو او آتشوو مالي کړنو په برخه کې لارښوونه کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د پوهنې ریاست عمومي تفتیش مدیریت او همدارنګه د پوهنې وزارت دمالي او حسابداری ریاست د بودیجې د مصرف څخه د څارنې او تطبیق آمریت د ګومارل شوي پلاوي لخوا د ۱۴۰۲ مالي کال د بودیجې د مصرف څخه څارنه شوې ده چې په پایله کې شفافیت رامنځ ته شوی دی.

**۴,۳ فعالیت: دپه نورستان ولایت کې د Auto PRIS سیستم نصبول او فعالول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د پوهنې وزارت د مالي او حسابداري ریاست له لورې AUTO PRIS سیستم نورستان ولایت د پوهنې ریاست کې نصب او فعال شوی دی.

**۴,۴ فعالیت: د بودیجې د ترتیب او لګښتونو د تعقیب سیستم (BPET) پراختیا او نوي کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د BPET بودیجې ترتیب او د لګښتونو تعقیب داخلي سیستم په پراختیا کې لازمې هڅې ترسره شوي دي تر څو په مرکزي او ولایتي کچه د بودیجې مصرف پروسې باندې کنټرول رامنځته شي خو په روان مالي کال کې د مالي ستونزو د حل او په اجراآتو کې د چټکتیا په موخه یو کارکوونکي لپاره نوی یوزر جوړشوی دی.

**۴,۵ فعالیت: د مالیې وزارت په موافقه نورستان ولایت کې د افمیس سیستم ته پراختیا ورکول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې په نورستان ولایت پوهنې ریاست کې ټولې مالي چارې د (BPET ) سیستم له طریقه ترتیبېږي او په مستوفیت کې د(AFMIS) سیستم له طریقه اجرا کېږي او ټول مالي حسابي چارې د (AFMIS سیستم سره تطبیقېږي نو د پوهنې وزارت لخوا د افمیس سیستم فعال شوی دی.

**۴،۶ فعالیت: د نورستان ولایت په کچه د مالي چارو په برخه کې د کارکوونکو د ظرفیت لوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د کارکوونکو د ظرفیت لوړونې په برخه کې یو تن کارکوونکی د عوایدو په برخه کې روزل شوی او یو یوزر ورته جوړ شوی دی.

**۴،۷ فعالیت: د پوهنې وزارت د اداري کارکوونکو له پاره د ظرفیت لوړولو د استراتیژۍ طرحې جوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې وزارت له لورې په نورستان ولایت کې ندی ترسره شوی.

**۴،۸ فعالیت: د نورستان ولایت په کچه د اداري کارکوونکو زده کړه او ظرفیت لوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د نورستان ولایت په کچه د اداري کارکوونکو د زده کړې او ظرفیت لوړولو په موخه یاد فعالیت ندی ترسره شوی څکه یاد ریاست ته د پوهنې وزارت اړوند ارتقاء ظرفیت آمریت له لورې کوم هدایت ندی شوی او نه فورمونه رالیږل شوي دي.

**۴،۹ فعالیت: د نورستان ولایت په کچه د کارکوونکو د سوانحو دفترونو تدقیق، تصحیح، تطبیق او بریښنایي کول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کارکوونکو د سوانحو دفترونو تدقیق، تصحیح، او تطبیق کارونه یې ۷۵ سلنه تر سره شوي دي چې پاتې چارې به یې په راتلونکي کال کې ترسره شي.

**۴،۱۰ فعالیت: د نورستان ولایت په کچه د مدرسو او ښوونځیو د جایدادونو له پاره د ملکیت سندونو جوړول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې پوهنې ریاست اړوند د ملکیتونو او ښوونځیو د ساتنې او خوندیتوب مدیریت له لورې په مرکز پارون کې ۷ بابه ښوونځیو لپاره د ملکیت سندونه ترتیب شوي دي.

**۴،۱۱ فعالیت: د نورستان ولایت په کچه د اداري ځایونو او روزنیزو مرکزونو د ودانیو، ترمیمولو او احاطو سجل کول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې پوهنې ریاست اړوند د ملکیتونو او ښوونځیو ساتنې او خوندیتوب مدیریت له لورې په مرکز پارون کې ۹ ښوونځیو ودانۍ سجل تر سره شوی او همدارنګه د ۴ روزنیزو مرکزونو احاطې سجل شوي دي.

**۴،۱۲ فعالیت: د املاکو په دفترونو او معلوماتي سیستم کې د ملکیتونو د سندونو او سجلو ثبتول او د هغو فایلبندي؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د املاکو په دفترونو او معلوماتي سیستم کې د ملکیت ۷ سندونه، ۹ سجلونه ثبت شوي او مرکز پارون کې د پشکي نجونو لیسه، ډیوه د نجونو منځنۍ ښوونځۍ، ستیوي د نجونو او نور د هلکانو لیسي احاطې سجل او ثبت شوي دي.

## ۵: د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونو (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) پروګرام

**۵،۱ فعالیت: د امیرالمؤمنین د فرمانونو او د ریاست الوزرا ، وزیرانو شورا او پوهنې وزارت مشرتابه له حکمونو او لارښوونو څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه سفر تر سره کول؛**
د۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د پوهنې وزارت له لورې د امیرالمؤمنین د فرمانونو او د ریاست الوزراء، وزیرانو شورا او پوهنې وزارت مشرتابه له حکمونو او لارښوونو څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه کوم هیئت نه دی راغلی نو په همدې اساس یاد فعالیت ندی ترسره شوی.

**۵،۲ فعالیت: د عامه پوهاوي او چاپي خپرونو چاپ او ویش؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې ۱۰۹۰ د پوهنې اوونیزې چې د وزارت له لورې رالیږل شوي وې د ولایت په کچه ټولو ولسوالیو ته ویشل شوي دي او همدارنګه ۲۰ ټوکه د عرفان او ۲۰ ټوکه د بخوان بندیش مجلې چې د پوهنې وزارت څخه راستول شوې وې د

ریاست اړوند آمریتونو ته ویشل شوي دي. د بروشورونه او کلیزې تر اوسه پورې د پوهنې وزارت له لورې نه دي رارسیدلي، تر څو وویشل شي.

**۵,۳ فعالیت: د پوهنې د یوکلنې کړنې په هکله د کتابونو چاپ؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د پوهنې د یو کلنې کړنې په هکله کوم کتاب نورستان پوهنې ریاست ته نه دی را رسیدلی نو په همدې وجه یاد فعالیت تر اوسه پورې نه دی ترسره شوی.

**۵,۴ فعالیت: د نورستان ولایت د ولسوالیو او ښوونځیو په کچه د درسي کتابونو د ویشلو له پروسې څخه تخنیکي کتنه؛**
د۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې د پوهنې وزارت څخه کوم ټیم د یاد فعالیت د تر سره کولو په موخه نورستان ولایت ته سفر نه دی کړی اما د نورستان ولایت نشراتو مدیریت له لورې د ۲ ولسوالیو ۴ بابه ښوونځیو د درسي کتابونو د ویش له پروسې څخه تخنیکي کتنه تر سره شوې ده.

**۵,۵ فعالیت: د نورستان ولایت په کچه په پښتو او دري ژبه د سواد زده کړې د ۳۷۰۰ ټوکه درسي کتابونو چاپ او ویش؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د مرکز څخه د سواد زده کړو درسي کتابونه پوهنې ریاست ته نه دي رسیدلي تر څو و ویشل شي نو ځکه یاد فعالیت ندی ترسره شوی.

**۵,۶ فعالیت: د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود د ٦۵۰ ټوکه درسي کتابونو ویش؛**
د۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې یاد فعالیت ندی ترسره شوی ځکه چې د پوهنې وزارت له لورې نورستان پوهنې ریاست ته نوموړي کتابونه نه دي راستول شوي.

**۵,۷ فعالیت: په نورستان ولایت کې د استهلاک شویو کتابونو د لیلام چارو تعقیبول او د ولایتونو د نشراتو مدیرانو له لورې د کارونو د پړاوونو بشپړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت ندی ترسره شوی ځکه چې وزارت څخه کوم هدایت ندی راغلی.

**۵,۸ فعالیت: د عملیاتي پلان د ترتیب او پلي کولو په برخه کې د نورستان ولایت کارکوونکو د ظرفیت لوړولو په موخه د روزنیزو ورکشاپونو په لاره اچول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د یاد فعالیت د تر سره کولو په موخه د پوهنې وزارت له لورې کوم ټیم نورستان ولایت ته سفر نه دی کړی.

**۵,۹ فعالیت: د پلټنې په برخه کې دنورستان ولایت کارکوونکو لپاره د روزنیزو پروګرامونو په لاره اچول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د نورستان ولایت پوهنې ریاست کارکوونکو لپاره د پلټنې په برخه کې روزنیزپروګرامونه د پوهنې وزارت لخوا په لاره نه دي اچول شوي.

**۵,۱۰ فعالیت: د اړونده پروګرامونو د رسولو په موخه نورستان ولایت ته د دعوت او ارشاد ریاست د کارکوونکو سفر کول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د اړونده پروګرامونو د رسولو په موخه د پوهنې وزارت د د عوت ارشاد ریاست څخه ۲ تنه کارکونکي نورستان پوهنې ریاست ته راغلي وو چې د یاد ولایت پوهنې ریاست کارکوونکو ته یې د صورت او سیرت اصلاح په هکله د الهي احکامو مطابق لارښوونې ترسره کړې .

## دویمه برخه: انډولیز لاسرسی

**ټولیزه موخه:** په هېواد کې د ماشومانو، ځوانانو او لویانو، نجونو او ښځو لپاره کېفیت لرونکي او خوندي زده کړو فرصتونو ته د انډولیز او ټول ګډونه لاس رسي زیاتوالی.

## ۱: ښوونې او روزنې پروګرام

**۱،۱ فعالیت: د ترسره شوي تحقیق سره سم په ښوونځیو کې د ښوونکو د غیرحاضرۍ د کمولو په موخه د پالیسۍ ازمایښتي تطبیق؛**

د ۱۴۰۳کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې د مرکز څخه کومه کړنلاره نه ده راغلې چې د هغې په اساس یاد فعالیت ترسره شي.

**۱،۲ فعالیت: دنورستان ولایت په کچه د ښوونکو د مسلکي پراختیا په موخه د اړونده پروګرامونو د تطبیق له څرنګوالي څخه څارنه؛**

د۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې د ښوونکو دمسلکي پراختیا په موخه د اړوند پروګرامونو د تطبیق څرنګوالي څخه څارنه نده ترسره شوې ځکه چې مرکز څخه څوک ندي راغلي.

**۱،۳ فعالیت: د فزیک، کیمیا، بیولوژي، ریاضي او محیطي ساینس په برخو کې د شته کمپیوټر لیبونو او لابراتوارونو تجهیزول او رامنځته کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د بودیجې د کمښت له امله ندی تر سره شوی.

**۱،۴ فعالیت: په دولتي ښوونځیو کې د نورستان ولایت په کچه د ٦٨٣١ جدیدالشمول زده کوونکو جذبول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د نورستان ولایت په کچه د عمومي زده کړو په ښوونځیو کې ۵۹۲٦ تنه زده کوونکي نوي شامل شوي دي چې له جملې څخه یې ۳۱۰۱ تنه نارینه او ۲۸۲۵ تنه ښځینه زده کوونکي دي.

د نورو معلوماتو لپاره ۱ نمبر ملیاتې ته دې مراجعه وشي.

**۱،۵ فعالیت: د نورستان ولایت په کچه د۲ بابه نویو ښوونځیو تأسیس؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې په دې برخه کې کومې کړنې ندي ترسره شوي، ځکه چې د بودیجې کمښت له امله یاد فعالیت ندی ترسره شوی دی.

**۱،٦ فعالیت: په نورستان ولایت کې د اړوندو ادارو سره د پخوانۍ همغږۍ پر بنسټ د لومړني ښوونځي منځني ښوونځیو ته او منځني ښوونځي لیسو ته لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د یاد فعالیت په اړه تر اوسه د پوهنې ریاست اړوند پوهنې آمریتونو له لورې د ښوونځیو لوړولو په موخه کوم وړاندیز ندی شوی ځکه چې په ښوونځیو کې د تشکیل کمښت له امله د ښوونځیو لوړولو معیار ندی پوره شوی.

**۱،۷ فعالیت: جلا کول، د نوم بدلول، ادغام، د جنسیت بدلون، د اقلیم بدلون او په نورستان ولایت کې له یوه ځای څخه بل ځای ته د ښوونځیو انتقال؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د نورستان ولایت په دواب ولسوالۍ کې د چطور مختلط لومړني ښوونځي نوم په شهید عبدالکریم لومړني ښوونځي، د سبزار کلم هلکانو منځني ښوونځي نوم په ملک میرزا عبدالعزیز هلکانو منځني ښوونځي او د سبزار کلم انجونو منځني ښوونځي نوم په توروک بابا انجونو منځني ښوونځي باندې بدل شوي دي

**۱،۸ فعالیت: د نورستان ولایت پوهنې ریاست اړوندو ادارو سره د ښوونځیو جوړولو د پروژو (د احاطې دیوال، احاطې او د پاکو اوبو څاه ګانو) په برخو کې همغږي؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د نورستان ولایت د کامدیش ولسوالۍ بازګل ښوونځي، وایګل کوڼ کلي ښوونځي، کوشت کلي ښوونځي استنادي دیوالونه او مرکز کې ماندي کلي لومړني ښوونځي احاطوي دیوالونو د ترمیم کارونه تر کار لاندې دي.

**۱،۹ فعالیت: له بهر څخه راستانه شویو او مجاهدینو د اړتیاوو او غوښتنو سره سم د ټولګیو تثبیتول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې ۱۹۵ تنه له بهر څخه راستانه شوي زده کوونکو ته د نورستان پوهنې ریاست اړوند په مختلفو ولسوالیو کې پوهنې آمریتونو اړوند ښوونځیو کې ټولګي تثبیت شوي دي او ۱۶۵ تنه مجاهدینو څخه د ټولګي تثبیت ازموینه پوهنې ریاست کې تثبیت صنف کمیسیون له لورې اخیستل شوې ده او ټولګي تثبیت شوي دي.

**۱،۱۰ فعالیت: د مرستندویه موسسو په همکارۍ په نورستان ولایت کې د سیمه اییزو او چټکو زده کړو ټولګیو جوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د سیمه اییزو او چټکو زده کړو ټولګي د همکارو موسسو له لورې نوي ندي ایجاد شوي خو ۲۴۰ بابه سیمه ایز او ۶۰ بابه چټکو زده کړو ټولګي له پخوا څخه شتون لري.

**۱،۱۱ فعالیت: د څارندوي ټیمونو، ترافیک او اور وژنې ټیمونو رامنځته کول او فعالول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د ښار پوهنې آمریت اړوند په ۷ بابه ښوونځیو کې د څارندوی ټیمونه د کامدیش او برګمټال ولسوالیو کې د ترافیک او اطفائیه یو یو ټیم جوړ شوی دی.

**۱،۱۲ فعالیت: د سواد د اهمیت په اړه د عامه پوهاوي د لوړولو په موخه د پروګرامونو تنظیمول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د نورستان ولایت په ټولو ولسوالیو کې د ۵۶ جماعتونوملا امامانو، صوتي او تصویري کلیپونو د خپرولوله لارې او قومي مشرانو له طریقه عامه پوهاوی ترسره شوی او همدارنګه دټکټ مؤسسې لخوا بروشورونه د عامه پوهاوي لپاره نصب شوي دي.

**۱،۱۳ فعالیت: د سیمه اییزو زده کړو، له ښوونځي څخه پاتې ماشومانو په مرکزونو او حرفوي او حیاتي زده کړو په ښوونځیو کې د اړمنو او زده کړې څخه بې برخې خلکو له پاره د سواد، حرفوي، شغلي، سواد حیاتي او ژوند مهارتونو د زمینې برابرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د بودیجې د کمښت له امله یاد فعالیت ندی ترسره شوی.

**۱،۱۴ فعالیت: راستنیدونکو او داخلي بې ځایه شویو لپاره چې د زده کړې څخه بې برخې پاتې د سواد زده کړو د زمینې برابرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې ۲۰۰ تنو داخلي بیځایه شوي زده کوونکو ته د نورستان پوهنې ریاست اړوند سواد زده کړو مدیریت له لورې په مرکز او د ولسوالو پوهنې آمریتونو ښوونځیو کې سواد زده کړو زمینه برابر شوې دي.

**۱،۱۵ فعالیت: د سواد زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې سواد زده کړې مدیریت له لورې د سواد زده کړې په کورسونو کې په مرکز او د ولسوالو پوهنې آمریتونو اړوند ۱۵۰۸ تنه نالوستي کسان جذب شوي دي.

**۱،۱۶ فعالیت: د ملا امامانو او کوچیانو د پروګرام له لارې د سواد زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یا فعالیت د بودیجې کمښت له امله نه دی ترسره شوی ځکه چې د امامانو او کوچیانو د پروګرام له لارې دسواد زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبولو لپاره پراختیایي بودیجې ته ضرورت دی.

**۱،۱۷ فعالیت: د نورستان ولایت په کچه د سواد زده کړې کورسونو رامنځته کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د نورستان ولایت په کچه د سواد زده کړو ټولټال ۱۱۲ بابه کورسونه ایجاد شوي دي له دې جملې څخه ۱۰ بابه کورسونه د رضاکار خلکو لخوا ایجاد شوي دي.

**۱،۱۸ فعالیت: دخصوصي ښوونیزو موسسو اوکورسونو ملاتړ او اعتبار ورکول؛**
د۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې مرکز پارون کې ۱ باب خصوصي ښوونځی بلورستان په نوم نوی رامنځته شوی دی

## ۲: اسلامي زده کړو پروګرام

**۲،۱ فعالیت: د اسلامي زده کړو د رسمي بنسټونو تاسیس، د نوم او بڼې بدلون، ارتقاء، تمدید او د بستونو وېش؛**

د ۱۴۰۳ کال کې د څلورمې ربعې تر پایه پورې رسمي بنسټونو تاسیس، د نوم او بنې بدلون، ارتقاء، تمدید او بستونو وېش ندی ترسره شوی ځکه چې غوښتنه یې نده شوې.

**۲,۲ فعالیت: د اسلامي زده کړو له تاسیس، د نوم بدلون، ارتقاء، تمدید او د خصوصي مرکزونو د جواز د بڼې د بدلون څخه کتنه او کنټرول؛**

د ۱۴۰۳ کال دڅلورمې ربعې تر پایه پورې د اسلامي زده کړو له تاسیس، د نوم بدلون، ارتقاء اوتمدید څخه کنټرول ندی ترسره شوی دی او په نورستان ولایت کې هغه خصوصي مرکزونه شتون نلري چې جوازونه یې اخیستي وي ټولې دیني مدرسې د دولت په چوکاټ کې دي.

**۲,۳ فعالیت: د ۱۵۰ حافظانو او علماء کرامو د سویې تثبیت؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د اسلامي زده کړو معینیت د کړنلارې مطابق د ولایت په کچه ۱۵۶ تنو حافظانو څخه د کامل حفظ آزموینه واخیستل شوه او پایلې یې بیرته د اسلامي زده کړو معینیت ته واستول شوې او د علماء کرامو څخه د تثبیت سویه ازموینه کې د دولسم ټولګي لپاره ۲۰ تنه او څوارلسم ټولګي لپاره ۵۰ تنو علماء کرامو ګډون کړی وو چې په پایله کې یادو ټولګیو ته ور وپیژندل شول.

**۲,۴ فعالیت: د دارالعلومونو د اداري او تدریسي لوازمو د اړتیاوو بشپړول او تجهیزول؛**

د۱۴۰۳کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې د اسلامي زده کړو آمریت له لورې په مرکز او وایګل ولسوالۍ کې دوه، دوه درالعلومونه د اداري او تدریسي لوزامو سره تجهیز شوي دي.

**۲,۵ فعالیت: د طالب العلمانو لپاره د لیلیې رامنځته کول؛**

د۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې ترپایه پورې د نورستان دپوهنې ریاست د اسلامي زده کړو آمریت اړوند د مرکزي دارالعلوم او ۹ باب خصوصي مدرسو کې ۵۰۰ تنو طالب العلمانو لپاره لیلیې انتظام شوی دی.

**۲,٦ فعالیت: په دارالعلومونو کې د اختصاصي ازموینې له لارې د عالي دورې په ۱۳ او ۱۴ ټولګیو او د دارالعلوم په لومړنۍ دورې کې د جدیدالشمولانو جلب او جذب؛**

د۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې د اسلامي زده کړو آمریت له لورې د اختصاصي ازموینې له لارې د عالي دورې په ۱۳ او ۱۴ ټولګیو ته ۷۸ تنه طالب العلمان جذب شوي دي او د دارالعلوم په لومړنۍ دورې کې ۵۰ تنه طالب العلمان جذب شوي دي.

**۲,۷ فعالیت: د ۲۴۵ مدرسو او د نویو دارالحفاظونو جوړول.**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د اسلامي زده کړو آمریت اړوند دوه بابه خصوصي مدرسې په نورګرام او کامدیش ولسوالۍ کې نوي رامنځته شوي.

**۲,۸ فعالیت: په نورستان ولایت کې د ١٦ بابه کلیوالي مدرسو او دارالحفاظونو جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت ندی ترسره شوی ځکه چې د نویو کلیوالي مدرسو او دارالحفاظونو جوړولو لپاره څوک نه دي عارض شوي تر څو مدرسې او دارالحفاظونه ورته جوړ شي.

**۲,۹ فعالیت: په نورستان ولایت کې د ۴۵۷ بابه عمومي او کلیوالي مدرسو سمبالول/تجهیزول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې اسلامي زده کړو آمریت اړوند په ۲۴ بابه خصوصي مدرسو ته موکېټ او قرطاسیه ویشل شوې ده.

## ۳: د کیفیت تضمین پروګرام

نورستان ولایت پوهنې ریاست په ۱۴۰۳ کال عملیاتي پلان کې د اندولیز لاسرسي برخې اړوند د کیفیت د تضمین پروګرام پلان شوی فعالیت موجود نه دی.

## ۴: سرچينو او اداري پروګرام

**۴,۱ فعالیت: ښوونيزو او اداري مرکزونو او نويو تاسيس شويو ښوونځيو ته د تشکېل او کوډونو ليږدول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پايه پورې د ولايت په کچه ۹ ولسواليو اړوند ښوونځيو، ښوونيز مرکزونو او اداري بنسټونو ته تشکېل او کوډونه ليږل شوي دي.

**۴,۲ فعالیت: د ښوونځيو د تشکېل لوړول له لومړني ښوونځي څخه منځني او ليسې ته او نورو ښوونيزو اداري مرکزونو ته لوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پايه پورې د ښوونځيو تشکيل لوړول له لومړني ښوونځي څخه منځني او ليسې ته او نورو ښوونيزو اداري مرکزونو ته د ولسواليو د پوهنې آمريتونو نظر په ضرورت غوښتنه کوي دا چې ضرورت ندی ليدل شوی او د يادو آمريتونو څخه غوښتنه نده شوي نو ځکه بدون له ضرورت څخه لوړول اصولي کړنې نه دي.

**۴,۳ فعالیت: د طرحو، ساختارونو او تشکېلاتي احصايو نهايي کول او د منظورۍ او تطبيق په خاطر يې د رياست الوزرا لوړ مقام ته ليږل؛**
د۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پايه پورې ياد فعاليت د پوهنې وزارت له لورې په نورستان ولايت کې ندی ترسره شوی.

**۴,۴ فعالیت: د بشري سرچينو د پروسو ساده کول، سمون او د نورستان ولايت ادارو د دندو د لايحو بيا کتنه او معياري کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پايه پورې د نورستان پوهنې رياست د بشري سرچينو د پروسې ساده کول، د استخدام په بخش کې تقرر او تبديل ارتقا ظرفيت ته د اداري او تدريسي کارکوونکو ورپيژندل، دسوانحو ډيټابيس په شکل په لنډ ډول ترتيبول او همدارنګه د موجوده ترتيب شويو لايحو په مورد مربوطه کارکوونکو ته واضح کول او تعقيبول او دلايحو د ګونګو مادو په اړه د پوهنې وزارت اړوند د اداري لوی رياست له کارپوهانو څخه معلومات غوښتل شوي دي.

**۴,۵ فعالیت: د برېښنايي سيسټم د تطبيق، د جنسونو د محاسبې او عامه جايدادونو (جنسونو، سامانونو، وسايطو اونورو ... ) د ثبت او د څارنې د څرنګوالي په موخه د يو تخينکي ټيم ټاکل او ليږل؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې ياد فعاليت نه دی ترسره شوی ځکه چې نوموړی فعاليت د پوهنې وزارت له لورې په نورستان ولايت کې ترسره کېږي خو د پوهنې وزارت له لورې کوم اقدام نه دی شوی.

**۴,۶ فعالیت: په نورستان ولايت کې د ديخيلو ادارو لخوا د ماينونو او چاوديدونکو موادو د خطرونو په اساس مسؤلينو، ښوونکو او زده کوونکو ته د زده کړې زمينه برابرول، لارښوود چمتو کول او پوسترونه ويشل؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پايه پورې ياد فعاليت د ياد فعاليت نه دی ترسره شوی ځکه چې د ديخيلو ادارو او يا هم همکارو ادارو تراوسه پورې همکاري نه ده کړې.

**۴,۷ فعالیت: په نورستان ولايت کې د اسلامي امارت د ۱۴۰۲ کال بوديجې څخه د بنسټيزو نيمه کاره پروژو (ښوونځيو، مدرسو او دارالحفاظونو) بشپړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پايه پورې ياد فعاليت د پراختيايي بوديجې کمښت له امله ندی ترسره شوی.

**۴,۸ فعالیت: د دولت او همکارو موسسو له بوديجې څخه د ساختماني پروژو جوړول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پايه پورې د همکارو مؤسسو له لورې دوه پروژو چې استنادي ديوالونه دي تکميل شوي دي.

**۴,۹ فعالیت: د ښوونځيو د ساتنې او پاملرنې او املاکو رياست په همغږۍ سره د نورستان ولايت ټيمونو له لارې د عادي او موسسو له بوديجې څخه ترميماتي پروژو تطبيقول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پايه پورې ياد فعاليت د بوديجې کمښت له امله ندی ترسره شوی.

**۴,۱۰ فعالیت: د نورستان ولايت څخه د بنسټيزو او ترميماتي پروژو د قيمت ورکولو په موخه په ربعوار ډول د ساختماني موادو د نرخونو راټولول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د ساختماني موادو نرخونه ترتیب له ترتیب وروسته د پوهنې وزارت اړوند د ښوونځیو او ملکېتونو دساتنې او خوندیتوب ریاست سره شریک شوي دي.

**۴,۱۱ فعالیت: د ښوونځیو او مدرسو د جوړولو په موخه د معارف پاله خلکو له لارې د شخصي ځمکو برابرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د ښوونځیوو او مدرسو جوړولو په موخه د کوم شخصي ځمکې ندي مشخصې شوي ځکه نورستان ولایت هموارې ځمکې نه لري.

**۴,۱۲ فعالیت: د نورستان ولایت په کچه د پوهنې اړوند تر دعوې او شخړې لاندې غصب شویو جایدادونو د دوسیو تعقیبول او د پوهنې د غصب شویو، نیول شویو او تر دعوې لاندې جایدادونو خلاصول؛**
د۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې د نورستان پوهنې ریاست اړوند نورګرام پوهنې آمریت کې بلیک ښوونځي او ګلچه خیل ښوونځي په دوه ځایونه غصب شوي دي او حل په موخه عدلیې ریاست ته راپور استول شوی دی.

## ۵: د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونو (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) پروګرام

**۵,۱ فعالیت: د نورستان ولایت پوهنې ریاست استازو ته د ولایت له پوهنې څخه د ترلاسه شویو مکتوبونو د ترلاسه کېدو او ښه اجراآتو په اړه معلومات ورکول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د نورستان ولایت پوهنې ریاست استازي ته د ولایت له پوهنې ریاست څخه ټول د متقاعدینو مکتوبونه، منفکي مکتوبونه، د دندو د اشغال مکتوبونه، د ښوونکو او مدیرانو د ارزونې مکتوبونه همدارنګه د تقرر او تبدیل وړاندیزونه او داسې نور ټول مکتوبونه او وړاندیزونه د معلومات او ټیکنالوژۍ له مدیریت څخه پوهنې وزارت ته لیږل شوي او هلته د پوهنې ریاست استازي لخوا د نورو کړنو په موخه په منظم ډول طی مراحل شوي دي.

## دریمه برخه: آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکې مدیریت

**تولیزه موخه:** د مرکز او ولایتونو په کچه کیفیت لرونکي، انډولیز او رښو، ارزانه او آغېزمنو ښوونیزو چوپړتیاو د وړاندې کولو او برابرولو لپاره د آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکي مدیریت پراختیا او غښتلتیا.

### ۱: ښوونې او روزنې پروګرام

**۱,۱ فعالیت: د نورستان ولایت په لرې پرتو او محرومو سیمو کې د ښوونکو د ګمارنې له خرنګوالي څخه څارنه؛**
د۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې د نورستان ولایت په لرې پرتو او محرومو سیمو د ښوونکو دګمارنې له خرنګوالي څخه څارنه نه ده ترسره شوې ځکه یاده څارنه د پوهنې وزارت له لورې ترسره کېږي.

**۱,۲ فعالیت: د اساسي او ثانوي زده کړو ریاست سره په همغږۍ په نورستان ولایت کې د څارنې له لارې د ښوونې او روزنې پروګرام اړوند د پوهنې وزارت سره د همکارو مؤسسو د لاسلیک شویو تعاهد/هوکړه لیکونو څخه د ډاډ ترلاسه کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت په نورستان ولایت کې ندی ترسره شوی ځکه چې تر دی دمه پورې د اساسي او ثانوي زده کړو ریاست له لورې کوم هدایت نه دی شوی، او نه هم څوک د پوهنې وزارت څخه راغلي.

**۱,۳ فعالیت: په نورستان ولایت کې د اړتیاؤ ارزولو او د ستونزو د پیژندلو په موخه د مسلکي پراختیا له مرکزونو او ساینس مرکز څخه څارنه کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې نوموړی فعالیت مرکز پورې اړه لري.

**۱,۴ فعالیت: د مقام د وزارت ته د عمومي ریاست او تر چتر لاندې اړوند ریاستونو د کادري غړو د علمي رتبو تصویب او پیشنهادول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا ریاست له لورې د علمي رتبو تصویت او وړاندیز کول معطل دي.

**۱٫۵ فعالیت: په نورستان ولایت کې د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا غړو لخوا د ښوونځیو د شوراگانو له کارونو او د هغوی له آغیزمنتوب څخه څارنه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې په نورستان ولایت کې د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا غړو لخوا د ښوونځیو دشوراگانو له کارونو او دهغوی له آغیزمنتوب څخه په مرکز پارون ښار کې څارنه ترسره شوې ده چې په دې لړ کې د ښوونې او روزنې په برخه کې عامه پوهاوی تر سره او همدارنگه د ښوونې او روزنې د ارزښت په اړه غونډې تر سره شوي دي او ښوونځیو ته د جدید الشمولانو د جلب او جذب په اړه کمپاینونه ترسره شوي دي.

**۱٫۶ فعالیت: مسلکي پراختیا، عمومي زده کړو ښوونځیو، سیمه ئیز او چټکو زده کړو ټولگیو او سواد زده کړو کورسونو څخه حمایوي څارنه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د ولایت په کچه د عمومي زده کړو ۴۲۱ بابه ښوونځیو،۴۲۴ بابه سیمه ایزو زده کړو ټولگیو، ۷۸ بابه چټکو زده کړو ټولگیو او ۱۳۳ بابه سواد زده کړو ټولگیو څخه حمایوي څارنه ترسره شوې ده.

**۱٫۷ فعالیت: د درسونو مشاهدې له لارې د ۵۵۱ تنو ښوونکو او نورو ښوونیزو کارکوونکو د کتنو له لارې د روزنیزو اړتیاوو په ډاگه کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د ولایت په کچه ۹۷۲ تنه ښوونکو، ۴۴۹ تنه مدیرانو، ۱۳۶ تنه سرمعلمینو او۳ تنه د سواد زده کړو ټولگیو ښوونکو د تدریسي بهیر او کړنو څخه مشاهده ترسره شوې ده.

**۱٫۸ فعالیت: د ترسره شویو علمي راپورونو ترلاسه کول، توحید، تحلیل او وړاندې کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې د پوهنې وزارت څخه څوک نه دی راغلي تر څو د علمي غړو راپور چمتو کړي.

**۱٫۹ فعالیت: د هوکړه لیکونو کتنه او تخنیکي اصلاح او د همکارو مؤسسو په ملاتړ د گډې نمونوي څارنې ترسره کول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د یو هوکړه لیک څخه تخنیکي اصلاحي کتنه شوې او همدارنگه د همکارو مؤسسو سره گډ له ښوونځیو څخه څارنه ترسره شوې ده.

**۱٫۱۰ فعالیت: په نورستان ولایت کې د انجونو د زده کړې پر وړاندې د ستونزو او ننگونو په ډاگه کول؛**
د۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې د نورستان ولایت کې د نجونو د زده کړې پر وړاندې هیڅ ستونزې او ننگونې وجود نلري.

**۱٫۱۱ فعالیت: د اساسي او ثانوي زده کړو زده کوونکو له پاره چې له هیواد څخه بهر د زده کړې د دوام غوښتنه لري د ښوونیزو سوابقو او ترانسکرپټونو برابرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت ندی ترسره شوی ځکه چې پدې هکله تر اوسه غوښتنه نده شوې.

**۱٫۱۲ فعالیت: د سیمه اییزو او چټکو زده کړو د هغو زده کوونکو د احصایې راټول چې د ۱۴۰۳ کال په په پای کې دولتي ښوونځیو ته لیږدول کیږي؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د سیمه ایزو او چټکو زده کړو داسې زده کوونکي شتون نه لري چې د ۱۴۰۳ کال په پای کې دولتي ښوونځیو ته ولیږدول شي خو په عمومي ډول د محلي او چټکو ټولگیو زده کوونکو احصائیه راټوله شوې ده چې ۸۷۵۰ تنه هلکان او ۱۷۴۷ تنه نجونې دي چې جمله ۱۰۴۹۷ کیږي په زده کړو بوخت دي.

**۱٫۱۳ فعالیت: په بیړنی حالت کې د زده کوونکو احصایې راټولول او توحیدول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت نه دی تر سره شوی ځکه چې په نورستان ولایت کې تر دې دمه هیڅ داسې بیړنی حالت ندي پیښ شوی.

**۱,۱۴ فعالیت: د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) او د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) په مرسته دنورستان ولایت په ټولو ښوونځیو کې د کولمو د چینجیو د له منځه وړلو ټولیز کمپاین ترسره کول او د البندازول د ټابلیټونو ویشل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال په آخیري ربع کې د پوهنې وزارت له لورې البندازول ټابلیټونه راولیږل شول چې د مرکز، واما، وایګل، کانتوا، داوب، مندول او نورګرام ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته ویشل شول خو ښوونځیو او زده کوونکو ته ځکه نه دي ویشل شوی چې نورستان ولایت سرد سیر ولایت دی د مالي کال په اخیر ښوونځیو کې زده کوونکې رخصت شوي وو؛ بناءً د نوموړو ټابلیټونو څخه به په راتلونکي کال کې زده کوونکي برخمن شي.

**۱,۱۵د نورستان ولایت کې د څارندوی ټیمونو له لارې د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې تبلیغات کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د بودیجې کمښت له امله ندی ترسره شوی.

**۱,۱۶ فعالیت: د وړتیاوو د معلومولو او ملي او نړیوالو سیالیو ته د معرفي کولو په موخه د ورزشي سیالیو په لاره اچول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د بودیجې کمښت له امله نه دی ترسره شوی.

**۱,۱۷ فعالیت: د سواد زده کړې برنامو څخه د مرستې او ملاتړ د جلب په موخه د ولایت او د ولسوالیو په کچه د سواد دکمیټو غونډو دایرول؛**

د۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې د سواد زده کړو برنامو څخه مرستې او ملاتړ د جذب په موخه په ۸ ولسوالیو کې د سودا کمیټو ۱۲ غونډې دائرې شوي دي.

**۱,۱۸ فعالیت: د خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو کورسونو د امتیاز دلیږد، د ځای د بدلون او ځای ناستي او مدیر ته اعتبار ورکول؛**

د۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې یاد فعالیت ندی ترسره شوی ځکه چې یو خصوصي ښوونځی نوی ایجاد شوی دی او مسؤلین دې ته ندي حاضر شوي تر څو خپل ښوونځی په رسمي ډول تسلیم کړي او یا خپل مدیر رسمي کړي.

## ۲: اسلامي زده کړو پروګرام

**۲,۱ فعالیت: د علماو کرامو د عالیه او خامسه درجو او د اسلامي زده کړو دیپلوماټیک او ثبت شوي اتشې سندونو ارزونه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د اسلامي زده کړو آمریت له لورې د خامسه درجو ۱۶ تنو او عالیه درجو ۲۰ تنو علماء کرامو د نورستان پوهنې ریاست کې ارزونه ترسره شوې ده.

**۲,۲ فعالیت: دنورستان ولایت په کچه د مسلکي پراختیا غړو له فعالیتونو څارنه او کنټرول؛**

د ۱۴۰۳ کال دڅلورمې ربعې تر پایه پورې د نورستان پوهنې ریاست په کچه د مسلکي پراختیا غړو لخوا ۷ بابه مدرسو او دارالعلومو اداري او تدریس چارو څارنه ترسره شوې او د یادونې وړ ده د اسلامي زده کړو آمریت اړوند مسلکي پراختیا غړي په مرکز او ولسوالیو کې نوي ګمارل شوي دي.

**۲,۳ فعالیت: په دارالعلومونو کې د نویو علمي، کدري استادانو د کادرونو اجرا او د علمي رتبو لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د اسلامي زده کړو آمریت کې دوه تنو علمي غړو او ۲۰ تنو استاذانو کادرونه اجراشوي او علمي رتبې ندي لوړې شوي ځکه چې ټاکلی معیار یې ندی پوره کړی.

**۲,۴ فعالیت: له ۸۷۸ تنو ګډونوالو څخه د ازموینې اخیستل او د ۱۲ او ۱۴ ټولګیو د ارزول شویو ۸۷۸ قطعو شهادتنامو اجرا کول؛**

د۱۴۰۳ کال ترپایه پورې ۶۷ تنو ګډونوالو څخه ازموینه اخیستل شوې او ۲۰۰ قطعې شهادتنامې د ۱۲ ټولګي او همدارنګه ۷۵ قطعې ۱۴ ټولګیو ته اجرا شوي دي.

### ۳: د کېفیت تضمین پروګرام

نورستان ولایت پوهنې ریاست په ۱۴۰۳ کال عملیاتي پلان کې د آغیزمن، روڼ او ځواب ویونکي مدیریت برخې اړوند د کېفیت تضمین پروګرام پلان شوی فعالیت موجود نه دی.

### ۴: سرچینو او اداري پروګرام

**۴,۱ فعالیت: په نورستان ولایت کې د بشري سرچینو د راجسټریشن په سیستم کې د معلوماتو نوي کول ( د خالي بستونو په ډاګه کول)؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې بشري سرچینو مدیریت له لورې د ولایت په کچه ۸۰ تش بستونه په ډاګه شوي دي.

**۴,۲ فعالیت: د نورستان ولایت په کچه د کارکوونکو د ثبت او راجسټریشن د وړاندیز شویو تغیراتو ثبتول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د نورستان ولایت په کچه ۳۵۶۱ تنه کارکوونکي ثبت او راجستر شوي دي.

**۴,۳ فعالیت: د تبدیلی او بست د لوړوالي چارو د پرمخ بیولو په موخه، استخدام ریاست ته د تشو بستونو په اړه د معلوماتو وړاندې کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د ۸۰ تشوبستونو ډاګه او د استخدام ریاست سره په اړه یې معلومات وړاندې شوي دي.

**۴,۴ فعالیت: د ۶۲۰ هویت/پیژند کارتونو چاپ او ویش؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې یاد فعالیت ندی ترسره شوی ځکه چې د کارکوونکو هویت کارتونه په پوهنې وزارت کې چاپ کیږي او بیا رالیږل کیږي چې تر اوسه پورې یاد کارتونه نه دي چاپ شوي او نه هم رالیږل شوي دي.

**۴,۵ فعالیت: د نورستان ولایت په کچه په تشو بستونو کې د نویو مقرر شویو کارکوونکو د ګمارنې بهیر څخه مدیریت؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې نورستان پوهنې ریاست له لورې ۶۰ تنه کارکوونکي، ۵ تنه ښوونکي او ۳۲ تنه استادان په دندو ګمارل شوي دي چې د دوی د ګمارلو د بهیر څخه په سالمه توګه مدیریت ترسره شوی دی.

**۴,۶ فعالیت: د پوهنې وزارت د ښوونیزو چارو، اداري کارکوونکو او خدماتي کارکوونکو د کړنو د ارزونې نتایجو ( د بست او قدم لوړول ) بیاکتل او د پراووونو بشپړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې نورستان پوهنې ریاست له لورې ۶۰ تنه کارکوونکي، ۵ تنه ښوونکي او ۳۲ تنه استادان په دندو ګمارل شوي دي. همدارنګه اداري کارکوونکو ارزونه او ښوونکو د بست ارتقاء د پوهنې وزارت له لورې د نوې کړنلارې تر جوړېدو پورې معطل شوې ده.

**۴,۷ فعالیت: د نورستان ولایت په کچه په شرایطو برابر کارکوونکو د تقاعد ترسره کول؛**

د ۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې د نورستان پوهنې ریاست اړوند ۵۱ تنه کارکوونکي د تقاعد شرایطو برابر او تقاعد شوي دي.

**۴,۸ فعالیت: د راتلونکي امنیتي پیښو د مخنیوي په موخه، له نورستان ولایت څخه میاشتنې، درې میاشتنې او کلنې امنیتي راپورونو راټولول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې کوم امنیتي پیښه شتون نه لري.

**۴,۹ فعالیت: د نورستان ولایت په کچه د کتابونو او اداري جنسونو او مالونو د لېږد په موخه د ونډې سره سم دچټک تلونکو او بار وړونکو وسایطو په خدمتي توګه تنظیمول او توظیفول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د چټک تلونکو او بار وړونکو وسایطو په خدمتي توګه د پوهنې وزارت له لورې نه دي رالیږل شوي خو د ولایت په کچه د مرکز په شمول ۹ ولسوالیو ته تنظیم شوي او د ضرورت وړ جنسونه یې مربوطه اداروته انتقال کړي دي.

**۴,۱۰ فعالیت: د پوهنې وزارت د نورستان ولایت ادارو لپاره د مطبوع او غیر مطبوع (چاپي او غیر چاپي ) قرطاسیې او مینځوونکو موادو ویشل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې دمطبوع او غیر مطبوع (چاپي او غیر چاپي) قرطاسیې او مینځونکي مواد د پوهنې وزارت څخه را انتقال او د پوهنې ریاست اړوند پوهنې ولسوالیو ته ویشل شوي دي.

**۴,۱۱ فعالیت: د نورستان ولایت پوهنې اړوند ریاست د ښوونځیو زده کوونکو لپاره ۱۰۰۰ پایې میزونو او څوکېو تولیدول او جوړول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې یاد فعالیت د بودیجې کمښت اوهمدارنګه د پوهنې وزارت له لورې نوموړی فعالیت نه دی ترسره شوی.

**۴,۱۲ فعالیت: د نورستان ولایت په کچه د اړتیا او لارښوونې سره سم د ساختماني او ترمیماتي پروژو د تطبیق له بهیر څخه په بېلابېلو وختونو کې څارنه؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د کامدیش ولسوالۍپه دوه ترمیماتي پروژو چې ترمیم چاري تکمیل شوي او ګټې اخستنې ته سپارل شوي دي څارنه ترسره شوې ده.

**۴,۱۳ فعالیت: د نورستان ولایت په کچه د پوهنې د کرایې ورکړل شویو او نیول شویو جایدادونو د قراردادونو چارو څخه څارنه او مدیریت ترسره کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د ولایت په کچه د پوهنې ریاست او اړوند ولسوالیو پوهنې آمریتونو لپاره ۳۷ ودانۍ په کرایه نیول شوي دي او د پوهنې ریاست اړوند کومې هتې شتون نه لري چې په کرایه ورکړل شي.

**۴,۱۴ فعالیت: د اسلامي امارت او همکارو موسسو د بودیجې څخه د ترمیماتي پروژو په برخه کې د تخنیکي نظر څرګندول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د همکارو موسسو د بودیجې څخه د ترمیماتي پروژو په برخه کې د ۲ پروژو چارې تکمیل شوي او ګټې اخستنې ته سپارل شوي دي په اړه یې نظر څرګند شوی دی.

## ۵: د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونو (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) پروګرام

**۵,۱ فعالیت: د پوهنې وزارت د معینیتونو سره د دریم او څلورم بستونو د ازموینو په هکله همغږي؛**

د ۱۴۰۳ کال ترپایه پورې د نورستان پوهنې ریاست اړوند دریم  تش بستونه  موجود نه وو تر څو د پوهنې وزارت معینیتونو سره همغږي وشي خو ۵ دانې څلورم بستونو په اړه همغږي ترسره شوې ده.

**۵,۲ فعالیت: د همکارو موسسو او نورو غیر دولتي ادارو سره د تفاهم نامو د یاداښت طی مراحل کول او د هوکړه لیکونو لاسلیک کول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د موسساتو سره کوم هوکړه لیک ندی لاسلیک شوی څکه چې یاد فعالیت د پوهنې وزارت له لورې ترسره کېږي.

**۵,۳ فعالیت: د نورستان ولایت پوهنې ریاست ادارو د ټولو مکتوبونو، فرمانونو، مصوبو او طرزالعملونو د لېږد را لېږد په برخه کې دوامداره همغږي او د اړیکو ټینګول؛ او نورستان ولایت د پوهنې ریاست د پیشنهادونو طی مراحل کول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د پوهنې ریاست له لورې ۴۰ سندونه ۲۸ دبنسټونو سندونه ترلاسه شوي او د پوهنې وزارت او اړوند معینیتونو ته دمنظورۍ په موخه ۴۵ پیشنهادونه لیږل شوي دي.

**۵,۴ فعالیت: د نورستان ولایت څخه د تر لاسه شویو راپوروونو تعقیب، کنترول او انسجام او د پوهنې د کارکوونکو د داخلي خدمتي سفرونو تنظیمول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې وزارت له لورې ندی ترسره شوی.

**۵,۵ فعالیت: نورستان ولایت د پوهنې ریاست د ترلاسه شویو اسنادو هر اړخیزه کتنه او اړونده مرجعو ته یې استول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعی تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې وزارت له لورې نه دی ترسره شوی.

**۵,۶ فعالیت: د کوچیانو د ښوونیزو چارو د ملاتړو او تقویتي پروګرامونو تنظمیول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې په نورستان ولایت کې کوچیانوقوم شتون نه لري.

**۵,۷ فعالیت: د دفتري کارونو څخه مدیریت، د واحدونو تر منځ د همغږۍ رامنځ ته کول او د ولایتونو پوهنې ریاستونو ته د رهبرۍ د ځانګړو لارښوونو او پریکړو ابلاغول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د پوهنې وزارت له لورې ندی ترسره شوی.

**۵,۸ فعالیت: د نورستان ولایت او ولسوالیو په کچه د عملیاتي پلانونو تحلیل، انسجام او توحیدول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د نورستان ولایت او ولسوالیو په کچه د ۱۴۰۳ کال عملیاتي پلان تحلیل، توحید او ترتیب وروسته منظورۍ لپاره مرکز ته استول شوی وو او د منظورۍ څخه وروسته ټولو برنامو او ولسوالیو ته د وروستي کړنو په خاطر استول شوی دی.

**۵,۹ فعالیت: د نورستان ولایت په کچه د ښوونیزو مرکزونو د جوړولو د ملي پلان تحلیل، انسجام او توحیدول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د نورستان ولایت د پوهنې ریاست اړوند ټول هغه ښوونځي چې ودانۍ نلري په یو جدول کې پلان ترتیب شوی او له ترتیب څخه وروسته مرکز ته استول شوی دی.

**۵,۱۰ فعالیت: په نورستان ولایت کچه د انکشافي پروژو د کانسپت نوټونو تحلیل، انسجام او توحیدول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د نورستان ولایت د پوهنې ریاست اړوند پلان مدیریت له لورې پنځه پروژو کانسپت نوټونه ترتیب شوي او له ترتیب وروسته مرکز ته استول شوي دي.

**۵,۱۱ فعالیت: د پوهنې وزارت د پنځه کلن ملي پلان تسوید او د مشورې او نظر غوښتلو په موخه نورستان ولایت د پوهنې ریاست سره شریکول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د نورستان د پوهنې ریاست اړوند پلان مدیریت څخه هغه مشورې او نظرونه چې د پنځه کلن ملي پلان تسوید لپاره غوښتل شوې وې د مشورو او نظر غوښتلو وروسته رسماً مرکز ته مکتوبي لیږل شوي دي.

**۵,۱۲ فعالیت: دنورستان ولایت پوهنې رئیس او د برنامو او ولسوالیو پوهنې آمرینو د کاري پلانونو تحلیل او انسجام؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د نورستان ولایت د پوهنې رئیس کاري پلان ترتیب او له ترتیب وروسته د منظورۍ په موخه مرکز ته استول شوی او منظور شوی دی. همدارنګه د ۴ برنامو، ۴ مدیریتونو او د مرکز په شمول ۹ ولسوالیو پوهنې آمریتونو کاري پلانونه هم ترتیب شوي دي.

**۵,۱۳ فعالیت: د پوهنې وزارت تر چتر لاندې ولایتي واحدونو د عادي او انکشافي بودیجې د مالي فعالیتونو او کړنو څخه پلټنه او کتنه او د قوانینو مراعتول؛**
د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې پراختیایې بودیجه د پوهنې وزارت له لورې نورستان پوهنې ریاست ته په واک کې نه ده ورکړل شوې.

**۵,۱۴ فعالیت: د عدلي او قضایي ارګانونو د قرار کشفي ځانګړو قضایاؤ بشپړول او د پوهنې وزارت تر اغیز لاندې واحدونو، بهرنیو ادارو او اشخاصو لخوا د وړاندې شویو شکایتونو او راپورونو کتنه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې تر دې دمه نورستان پوهنې ریاست کې ځانګړې قضیه نشته.

**۵,۱۵ فعالیت: په نورستان ولایت کې د مختصر نصاب تدریس، د کارکوونکو څخه د ازموینې اخیستل او د اصلاحي پروګرامونو پلي کول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې ترپایه پورې نورستان پوهنې ریاست اړوند کارکوونکو ته مختصر نصاب نه دی تدریس شوی څکه چې په داخل دریاست کې د مسجد او د تدریس ځای نشته.

**۵,۱٦ فعالیت: د نورستان ولایت کارکوونکو ته د اسلامي شریعت د احکامو سره سم توصیه او د هغوی د صورت او سیرت اصلاح او د اسلامي امارت د پالیسۍ پربنسټ د اولوالامر اطاعت کول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې ربعې تر پایه پورې د نورستان ولایت کارکوونکو ته د اسلامي شریعت سره سم توصیه او د هغوی د صورت او سیرت اصلاح او د اسلامي امارت د پالیسی پر بنسټ د اولوالامر اطاعت په اړه هر وخت د نورستان د امر بالمعروف ریاست کارکوونکو لخوا توصیه کیږي.

**دریمه برخه**

## د غیر پلاني فعالیتونو او لاسته راوړنو برخه

- د نورستان د محبس ۲۰ تنه بندیانو لپاره ۳۵ قلم کتابچې او قلمونه ویشل شویدي.
- د نورستان د امنیه قوماندانی د خاص قطعې ځواکونو ته د رسمي لیک په بنسټ ۲۵ کتابچې، کتاب او قلمونه ویشل شویدي.
- د نورستان پوهنې ریاست اړوند په ښوونځیو کې ۹٦ تنه زده کوونکي د سه پارچه له طریقه نورو ولایتونو څخه د نورستان ولایت ښوونځیو ته معرفي شوي دي.
- د نورستان ولایت پوهنې ریاست اړوند له ښوونځیو څخه ۸۲ تنه زده کوونکي دسه پارچې له لارې د نورستان ولایت څخه نورو ولایتونو ته معرفي شوي دي.
- د نورستان ولایت د پوهنې ریاست اړوند ښوونځیو څخه ۷۹ تنه زده کوونکي دسه پارچې له لارې له یوې ولسوالۍ څخه بلې ولسوالۍ ښوونځیو ته معرفي شوي دي.
- د نورستان پوهنې ریاست ۳۴۷٦ ټوکه کتابونه کندی شرکت په واسطه را انتقال او م۷ فورم او اسنادونه د مستوفیت څخه کنټرول وروسته وزارت ته ولیږل شول څکه چې اتم ټولګي فزیک پرځای اتم ټولګي تاریخ نوي کتابونه نورستان پوهنې ریاست ته انتقال شوي وو.

## تحلیل او پایلې

| لومړۍ برخه: کیفیت او تړاو | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شمېره | فعالیتونه | شاخصونه | کلي موخه | کمي پرمختګ | د پرمختګ سلنه | د فعالیت حالت: بشپړ شوی | تر کار | نا پیل شوی | ځنډول | د بشپړ شویو فعالیتونو پایلې | نا پیل شویو، ځنډول شویو نه بشپړ شویو فعالیتونو لاملونه |
| ۱. ښوونه او روزنه | | | | | | | | | | | |
| ۱.۱ | د مرکزي او ولایتي ښوونځیو دکتابتونونو د کتابدارانو د اړتیاوو ارزونه او ظرفیت لوړول؛ | د ځانګړو شویو ولایتي کتابتونونو شمېر | ۱۰ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | په ښوونځیو کې کتابخانې شتون نه لري |
| ۱.۲ | په مرکز او ولایتونو کې د سواد زده کړو د دویمې سویې (۴-۶ ټولګی) کتابونو تجربوي تطبیق؛ | د تطبیق شویو ولایتونو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې د پوهنې وزارت څخه ځوک نه دي راغلي. |
| ۱.۳ | د عمومي زده کړو، اسلامي زده کړو او سواد زده کړې د اړتیاوو د ارزونې موندنو پر بنسټ د ښوونیزو موادو پراختیا؛ | د سواد زده کړو د ځانګړو شوو کورسونو شمېر | ۳۵ | ۱۳۳ | +۱۰۰٪ | ✓ | | | | په دې سره به د سواد زده کړې کورسونو کې ښه والې راغلی دی. | |
| ۱.۴ | د ولایتونو په کچه د علمي غړو (مربیانو) ظرفیت لوړول؛ | د مرکزي ټیم لخوا د روزل شوو ولایتي علمي غړو شمېر | ۱۳ | ۹ | ۶۹٪ | | ✓ | | | پدې سره به د مرکز هستې او ولسوالیو علمي غړو ظرفیت لوړ شي. | |
| | | د ولایتي ټیمونو لخوا د ولسوالیو په کچه د روزل شوو علمي غړو شمېر | ۶۴ | ۵۴ | ۸۴٪ | | ✓ | | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱. ۵ | د علمي افکارو، مسؤلیت منلو او ښه چلند په برخه کې په مرکز او ولایتونو کې د ښوونکو، مدیرانو او د ښوونځیو د اداري شوراګانو او علمي غړو لپاره د ظرفیت لوړولو د پروګرامونو ترتیبول؛ | د رزول شوو ښوونکو شمېر | ۴۵۰ | ۵۰۷ | +۱۰۰٪ | ✓ | | | | پدی سره به د ښووونکو ظرفیت لوړشي. | |
| | | د روزل شوو سر ښوونکو شمېر | ۲۵ | ۱۲ | ۴۸٪ | | ✓ | | | | |
| | | د رزول شوو مدیرانو/آمرینو شمېر | ۲۵ | ۳۱ | ۱۰۰٪ | ✓ | | | | | |
| | | د روزل شوو علمي غړو شمېر | ۷۷ | ۴۸ | ٦۲٪ | | ✓ | | | پدی سره به د علمی غړو ظرفیت لوړشی. | |
| ۱.٦ | کارکوونکو ته د جواز ورکولو د سیستم د پلی کېدو په موخه لازم چمتوالی؛ | د جواز ورکولو سیستم د معرفی کولو په برخه کې د روزل شوو کارکوونکو شمېر | ۷۷ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | ځکه یاد فعالیت په اړه کومه کړنلاره نه ده راغلې. |
| ۱. ۷ | د لابراتوارنو د اړتیاوو معلومولولپاره سروې او په مرکز او ولایتونو کې د ترسره شوو پروګرامونو حمایوي ځارنه؛ | د سروې اوحمایوي ترسره شوې ځارنې شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | ځکه تر اوسه پورې د پوهنې وزارت له لورې ځوک نه دي راغلي. |
| ۱. ۸ | د لابراتوارونو او کمپیوټرونو اغیزمنتوب او کارولو څخه ځارنه او لیدنه؛ | د ترسره شوو کتنو شمېر | ۱ | ۱ | ۱۰۰٪ | ✓ | | | | په دی سره به د د لابراتوارونو کې د موادو کمښت او اړتیاوی ورته برابر شي. | |
| ۱. ۹ | د ساینس ولایتي مدیریتونو علمي غړو او لابرانت لپاره د ساینس، ریاضي او کمپیوټر برخه کې د روزنیزو پروګرامونو تنظیمول؛ | د روزل شوو علمي غړو شمېر | ۹ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه مرکز څخه ځوک نه دي راغلي. |
| | | د ښوونځیو په کچه د روزل شوو لابرانټ ښوونکو شمېر | ۵۰ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | |
| ۱. ۱۰ | ذ مسلکي غړو له خوا په نورستان ولایت کې د ریاست د تخنیکي | د دایرشوو ورکشاپونو شمېر | ۱ | ۱ | ۱۰۰٪ | ✓ | | | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | غړو لخوا د واش (WASH) Dewormin په برخه کې د څاروندي د تروپ ګروپونو او بدني روزنې ښوونکو لپاره د سيمينارونو او ورکشاپونو دايرول؛ | د بدني روزنې د مسلکي او غير مسلکي روزل شوو ښوونکو شمېر | ١٠ | ٠ | ٠٪ | | | ✓ | | | |
| | | د اصول صنفي روزل شوو ښوونکو شمېر | ٤ | ٠ | ٠٪ | | | ✓ | | | |
| | | د روغتيا په برخه کې د ښوونکو، مديرانو، آمرينو او مسلکي روزل شوو غړو شمېر | ٦٥ | ٠ | ٠٪ | | | ✓ | | | |
| | | د روغتيا په برخه کې له روزنو د برخمن شويو زده کوونو او ښوونکو شمېر | ٦٠٠ | ٤٠٠ | ٦٧٪ | | ✓ | | | پدې سره به روغتيا په برخه کې پوهه ترلاسه کړي. | |
| ١.<br>١١ | د ځانې ارزونې له مخې د قابليتونو د ارزونې په برخه کې نورستان ولايت په ګډون د لازم ظرفيت رامنځته کول او د سواد زده کړې د پروګرامونو د کېفيت د ښه والي لپاره د لازمو لارښوونو ترتيبول او ملي کول؛ | تر پوښښ لاندې ولايتونو شمېر | ١ | ٠ | ٠٪ | | | ✓ | | | د پوهنې وزارت له لورې ياد فعاليت په نورستان ولايت کې نه دی ترسره شوی. |
| ١.<br>١٢ | د مرکز په کچه د سواد زده کړو د پروګرامونو د ښه تطبيق په موخه، د ترتيب شويو لايحو، طرزالعملونو او لارښودونو د معرفي په هکله د روزنيز ورکشاپ په لاره اچول؛ | د روزل شوو ګډونوالو شمېر | ٢ | ٠ | ٠٪ | | | ✓ | | | د بوديجې کمښت له امله ياد فعاليت نه دی ترسره شوی. |
| ١.<br>١٣ | د سواد زده کړې پروګرام د پلي کولو لپاره د سرچينو تشخيص او ترلاسه کول، د دولتي، غير دولتي | د تشخيص شويو او جلب شويو بشري سرچينو شمېر | ٨ | ٠ | ٠٪ | | | ✓ | | | د سواد زده کړو پلي کولو لپاره بشري سرچينې نه دی ترلاسه شوي |
| | | د ترلاسه شوي بودجې اندازه (افغاني) | ١٤٠٠٠ | ٠ | ٠٪ | | | ✓ | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | بنسټونو او رضاکارانو ملاتړ ترلاسه کول؛ | | | | | | | | | | |
| **۲. اسلامي زده کړې** | | | | | | | | | | | |
| ۲.۱ | دارالعلوم ته د مدرسو لوړول؛ | دارالعلوم ته د ارتقاء شویو مدرسو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | ځکه تر اوسه کوم معیار نه ده پوره کړی. |
| ۲.۲ | د دارالعلومونو د اداري او تدریسي چارو د بیا کتنې او ارتیاؤ معلوملو په موخه د علمي او تدریسي غړو لیږل؛ | د معلوم شویو اړتیاؤ شمېر | ۲۲۸ | ٦ | ۳٪ | | ✓ | | | | |
| | | د کتل شویو او بررسی شویو دارالعلومونو شمېر | ۵۷ | ۱ | ۲٪ | | ✓ | | | پدی سره به ستونزی حل شی | |
| ۲.۳ | په ولایتونو کې د نویو مقرر شویو کارکوونکو د ظرفیت لوړولو په موخه د لارښوونې سیمینارونو دایرول؛ | د ولایتي دایر شویو سیمینارونو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | د پوهنې وزارت له لوری سمینارونه په لاره اچول شوی ندی. |
| ۲.۴ | په نورستان کې د اسلامي زده کړو اړوند مدرسو او دارالحفاظونو د اداري او تدریسي کارونو د بیاکتنې او اړتیاؤ معلوملو په موخه د علمي او تدریسي غړو ورلیږل؛ | د معلوم شویو اړتیاؤ شمېر | ۲۲۸ | ۲ | ۱٪ | | ✓ | | | | |
| | | د کتل شویو مدرسو او دارالحفاظونو شمېر | ۵۷ | ۱۰ | ۱۷٪ | | ✓ | | | پدی سره به ستونزی حل شی. | |
| ۲.۵ | په شته ډیټابیس کې د علماء کرامو د ازموینو ثبتول؛ | د ثبت شویو علماء کرامو شمېر | ۵۱۴ | ۱۵۰ | ۲۹٪ | | ✓ | | | پدی سره به د علماء کرام د حقوقو ځخه برخمن شی. | |
| ۲.٦ | په نورستان ولایت کې د مدرسو او دارالحفاظونو استادانو ته د نویو درسي کتابونو د ورپېژندلو په موخه د ورکشاپ دایرول؛ | د روزل شویو ښوونکو شمېر | ۲۷ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | د نویو کتابونو نشتون له امله کوم استادان نه دي روزل شوي. |
| ۲.۷ | د مدرسو فارغین په عالیه او عالمیه ازموینو کې ثبتول. | د ثبت شویو فارغانو شمېر | ۵۷ | ۱۰۹ | +۱۰۰٪ | ✓ | | | | په دي سره به طالب العلمان د خپلو حقوقو ځخه برخمن شي. | |

## ۳. د کېفیت تضمین

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳. ۱ | د نورستان ولایت او ولسوالیو په کچه د کېفیت لرونکو احصاییوي ارقامو راټولولو په موخه د ظرفیت لوړونې ورکشاپونو په لاره اچول؛ | د ولایتونو په کچه د دایر شویو ورکشاپونو شمېر | ۱۲ | ۹ | ۷۵٪ | | ✓ | | | | |
| ۳. ۲ | د نورستان ولایت په کچه د ۱۴۰۲ هـ ش کال احصاییوِي ارقامو ۱۰٪ کتنه او تصدیق؛ | د ارقامو د تصدیق شویو راپورونو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | د پوهنې وزارت له لورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی. |
| ۳. ۳ | د ډیټاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰۲ هـ ش کال د احصایې ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛ | نشراتو ریاست ته د لېږل شویو پروفایلونو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | یاد فعالیت د پوهنې وزارت له لورې نه دی ترسره شوی. |
| ۳. ۴ | د ډیټاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰۳ هـ ش کال د احصایې ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛ | نشراتو ریاست ته د استول شویو پروفایلونو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | یاد فعالیت د پوهنې وزارت له لورې نه دی ترسره شوی |
| ۳. ۵ | د نویو تاسیس شویو او د تېرو کلونو د پاتې ښوونځیو د مختصاتو راټولول؛ | د مختصاتو د راټولولو په موخه د پلان شویو روزنیزو مرکزونو شمېر | ۱۹۳ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | یاد فعالیت دپوهنې وزارت له لورې نه دی ترسره شوی |
| ۳.۶ | د برې لیکونو/شهادتنامو ترتیب، تدقیق، طی مراحل او وېشل؛ | په ګروپي بڼه د وېشل شویو برې لیکونو شمېر | ۱۴۸ | ۵۲۵ | ٪+۱۰۰ | ✓ | | | | په دې سره به زده کوونکي د خپلو حقوقو څخه برخمن شي | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳.۷ | د نورستان ولایت پوهنې ریاست ته د سپینو برې لیکونو/شهادتنامو وېشل؛ | د سپینو وېشل شویو برې لیکونو شمېر | ۱۰۰۰ | ۴۴۲ | ۴۴٪ | | ✓ | | | | |
| ۳.۸ | د دولسم او څوارلسم ټولګیو د فارغانو د نتایجو جدولونو تدقیق، تطبیق او تاییدول؛ | د دولتي ښوونځیو د پایلو د تایید شویو جدولونو شمېر | ۲۲ | ۱۲ | ۵۵٪ | | ✓ | | | پدی سره به فارغان خپل حقوق څخه برخمن شي. | |
| ۳.۹ | د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو په برخه کې فردي او نهادي ظرفیت لوړونه؛ | د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو په برخو کې د روزل شویو کارکوونکو شمېر | ۱۴ | ۲۴ | +۱۰۰٪ | ✓ | | | | پدی سره به د راپور ورکولو په برخه کې ستونزی حل شي. | |
| ۳.۱۰ | دنورستان ولایت د پوهنې ریاست د فعالیتونو او پلانونو له تطبیق څخه ربعېواره څارنه؛ | د ولایتونو د څارل شویو پوهنې ریاستونو شمېر | ۱ | ۱ | ۱۰۰٪ | ✓ | | | | پدی سره به نیمګړتیاوی په ګوته او حل شي. | |
| ۳.۱۱ | د نورستان ولایت پوهنې ریاست اړوند د پوهنې وزارت د همکارو مؤسسو له پروژو څخه څارنه؛ | د ولایتونو د پوهنې په برخه کې د اړوند مؤسسو د څارل شویو پروژو څخه د ترتیب شویو توحیدي راپورونو شمېر | ۱ | ۱ | ۱۰۰٪ | ✓ | | | | به دی سره د څارنې کارونه په منظم ډول مخته لاړشي. | |
| ۳.۱۲ | د عملیاتي پلان له تطبیق څخه د څارنې او ارزونې په موخه د راپور ورکولو سیستم استفاده کول؛ | د ولایتونو شمېر چې راپورونه یې د استفادې وړ ګرځېدلي | ۱ | ۱ | ۱۰۰٪ | ✓ | | | | په دی سره به د څارنې او ارزونې کارونه په منظم ډول مخته لاړشي. | |
| ۳.۱۳ | د ۱۴۰۳ کال لپاره د عملیاتي پلان او د باثباته پراختیایي موخو پر بنسټ د ولایتونو د پوهنې ریاستونو له کلنۍ کړنو څخه د ارزونې ترسره کول؛ | د ارزول شویو ولایتونو د پوهنې ریاستونو شمېر | ۱ | ۱ | ۱۰۰٪ | ✓ | | | | پدی سره به نیمګړتیاوی په ګوته او حل شي. | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳.۱۴ | د عملیاتي پلان د راپور ورکولو آنلاین سیستم پراختیا او تطبیق؛ | د ولایتونو شمېر چې سیستم پکې فعال او تطبیق شوی دی | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | د پوهنې وزارت سره د سرور نه وصل کیدو له امله یاد سیستم نه دی فعالی شوی. |
| ۳.۱۵ | د چمتو شوي فارمټ سره سم، د نورستان ولایت په کچه د پلانونو د پرمختګ او لاسته راوړنو ربعوار راپورونو راټولول؛ | د ربعوار راټولو شویو راپورونو شمېر | ۴ | ۴ | ۱۰۰٪ | ✓ | | | | پدې سره به د نورستان پوهنې ریاست لاسته راوړني په ډاګه شي. | |
| ۳.۱۶ | د ښوونیز کال په پیل او پای او دوو پړاوونو کې د شپږو سږو ولایتونو په ښوونځیو کې په پرتله اییزه توګه د دریم ټولګي د زده کوونکو د لوستلو د کچې ارزول؛ | د ارزونې راپور | ۱ | ۱ | ۱۰۰٪ | ✓ | | | | په دی سره به د زده کوونکو د لوستلو کچه معلوم شي. | |
| ۳.۱۷ | په نورستان ولایت کې د شپږم ټولګي د ریاضي مضمون د ازموینې د پارچو ارزونه؛ | د پانو د ارزونې راپور | ۱ | ۱ | ۰٪ | ✓ | | | | په دی سره به د زده کوونکو د لوستلو کچه معلوم شي. | |
| ۳.۱۸ | د نورستان ولایت په کچه د تقنیني اسنادو او پالیسیو د تطبیق د وړتیا ارزونه او تجربوي تطبیق؛ | د ترسره شویو کړنو سلنه | ۱۰۰ ٪ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | د پوهنې وزارت له لورې کوم پرمختګ نه دی شوی |
| ۳.۱۹ | د نورستان ولایت په کچه د تقنیني سندونو او پالیسیو په برخو کې د کارکوونکو روزل او ظرفیت لوړونه؛ | د تطبیق شویو روزنیزو پروګرامونو سلنه | ۱۰۰ ٪ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | د پوهنې وزارت له لورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی. |
| ۴. سرچینې او اداره | | | | | | | | | | | |
| ۴.۱ | د پوهنې وزارت د داخلي عوایدو په راټولولو کې زیات والی؛ | راټول شوي عواید | ۱ | ۱۳۱۸۴۴۱ | ۱۰۰٪ | ✓ | | | | په دې سره به د پوهنې وزارت په بودیجه کې زیاتوالی راشي. | |
| ۴.۲ | د ۱۴۰۲ کال د لګول شوې بودیجې له څرنګوالي څخه څارنه او | د آتشو او تر پوښښ لاندې ولایتونو شمېر | ۱ | ۱ | ۱۰۰٪ | ✓ | | | | په دې سره به په مالي برخه کې شفافیت رامنځ ته شي | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | همدارنګه ۱۲ ولایتونو او آتشوو مالي کړنو په برخه کې لارښوونه کول؛ | | | | | | | | | | |
| ۴.۳ | دپه نورستان ولایت کې د Auto PRIS سیستم نصبول او فعالول؛ | د سیستم پرمختګ سلنه | ۱ | ۱ | ۱۰۰٪ | ✓ | | | | پدی سره به مالی چارو کې اسانتیاوې رامنځته شی. | |
| ۴.۴ | د بودیجې د ترتیب او لګښتونو د تعقیب سیستم (BPET) پراختیا او نوي کول؛ | د رامنځته شوي سیستم د پرمختګ سلنه | ۱۰۰ ٪ | ۱۰۰٪ | ۱۰۰٪ | | ✓ | | | | |
| ۴.۵ | د مالیې وزارت په موافقه نورستان ولایت کې د افمیس سیستم ته پراختیا ورکول؛ | د ولایت پر بنسټ د پرمختګ سلنه | ۱ | ۱ | ۱۰۰٪ | ✓ | | | | پدی سره به اداري کړنو اسانتیاوې رامنځته شی. | |
| ۴.٦ | د نورستان ولایت په کچه د مالي چارو په برخه کې د کارکوونکو د ظرفیت لوړول؛ | د ولایتونو په کچه د روزل شویو کارکوونکو شمیر | ۵ | ۱ | ۲۰٪ | | ✓ | | | پدی سره به مالی چارو د کارکوونکو ظرفیت لوړ شی. | |
| ۴.۷ | د پوهنې وزارت د اداري کارکوونکو له پاره د ظرفیت لوړولو د استراتیژی طرحې جوړول؛ | د پرمختګ سلنه | ۱۰۰ ٪ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | یاد فعالیت د پوهنې وزارت له لورې نه دی ترسره شوی. |
| ۴.۸ | د نورستان ولایت په کچه د اداري کارکوونکو زده کړه او ظرفیت لوړول؛ | د فورمو د لېږلو له لارې د ولایتي ارزول شویو کارکوونکو شمېر | ۱۰۰ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | د پوهنې وزارت اړوند ارتقاء ظرفیت آمریت له لورې کوم هدایت نه دی شوې او نه فورمونه رالیږل شوي دي. |
| | | د ولایتي روزل شویو کارکوونکو شمېر | ۱۰۰ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | |
| ۴.۹ | د نورستان ولایت په کچه د کارکوونکو د سوانحو دفترونو تدقیق، تصحیح، تطبیق او بریښنایي کول؛ | د پرمختګ سلنه | ۱۰۰ ٪ | ۷۵٪ | ۷۵٪ | | ✓ | | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴. ۱۰ | د نورستان ولایت په کچه د مدرسو او ښوونځیو د جایدادونو له پاره د ملکیت سندونو جوړول؛ | د ترتیب شویو اسنادو شمېر | ۲۰ | ۷ | ۳۵٪ | | ✓ | | | پدې سره به د مدرسو او ښوونځیو ملکیت سندونه ثابت شي. | |
| ۴. ۱۱ | د نورستان ولایت په کچه د اداري ځایونو او روزنیزو مرکزونو د ودانیو، ترمیمولو او احاطو سجل کول؛ | د سجل شویو ودانیو شمېر | ۵ | ۹ | +۱۰۰٪ | ✓ | | | | | |
| | | د روزنیزو مرکزونو د احاطوي سجل شویو دیوالونو شمېر | ۵ | ۴ | ۸۰٪ | | ✓ | | | | |
| | | د ترمیم شویو سجل شویو روزنیزو مرکزونو شمېر | ۴ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | د بودیجې کمښت له امله یاد فعالیت نه دی ترسره شوی. |
| ۴. ۱۲ | د املاکو په دفترونو او معلوماتي سیستم کې د ملکیتونو د سندونو او سجلو ثبتول او د هغو فایلبندي؛ | د ملکیت د ثبت شویو سندونو شمېر | ۲۰ | ۷ | ۳۵٪ | | ✓ | | | | |
| | | د ثبت شویو سجلو شمېر | ۱۲ | ۹ | ۷۵٪ | | ✓ | | | | |
| ۵. پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، پلان، مخابره او نور) | | | | | | | | | | | |
| ۵. ۱ | د امیرالمؤمنین د فرمانونو او د ریاست الوزرا ، وزیرانو شورا او پوهنې وزارت مشرتابه له حکمونو او لارښوونو څخه د داد تر لاسه کولو په موخه سفر تر سره کول؛ | ولایتونو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | د پوهنې وزارت څخه خوک نه دی راغلی ځکه یاد فعالیت نه دی ترسره شوی. |
| ۵. ۲ | د عامه پوهاوي او چاپي خپرونو چاپ او ویش؛ | په ولایتي کچه د عرفان د وېشل شویو مجلو شمېر | ۸۰۰ | ۲۰ | ۳٪ | | ✓ | | | | |
| | | په ولایتي کچه د بخوان و بینديش د وېشل شويو مجلو شمېر | ۸۰۰ | ۲۰ | ۳٪ | | ✓ | | | | |
| | | په ولایتي کچه د پوهنې د وېشل شویو اوونیزو شمېر | ۱۶۰۰ | ۱۰۹۰ | ۶۸٪ | | ✓ | | | | |
| | | په ولایتي کچه د وېشل شوي کلیزې شمېر | ۴۰ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | یاد چاپ وزارت کېږی او بیا رالیرل کېږی چې تر دې مهاله |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | د ولایتونو له پاره د چاپ شویو او وېشل شویو بروشورونو شمېر | ۱٦۰ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | کوم چاپي مواد نه دی را رسیدلی. |
| ۵.۳ | د پوهنې د یوکلنې کړنې په هکله د کتابونو چاپ؛ | د ولایتونو له پاره د چاپ شویو او وېشل شویو کتابونو شمېر | ۴۰ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | دپوهنې وزارت له لورې یاد فعالیت په نورستان ولایت کې نه دی ترسره شوی. |
| ۵.۴ | د نورستان ولایت د ولسوالیو او ښوونځیو په کچه د درسي کتابونو د ویشلو له پروسې څخه تخنیکي کتنه؛ | د کتل شویو ولایتونو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | یاد فعالیت دپوهنې وزارت له لورې نه دی ترسره شوی. |
| | | د کتل شویو ولسوالیو شمېر | ۲ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | |
| | | د کتل شویو ښوونځیو شمېر | ۴ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | |
| ۵.۵ | د نورستان ولایت په کچه په پښتو او دري ژبه د سواد زده کړې د ۳۷۰۰ ټوکه درسي کتابونو چاپ او ویش؛ | د وېشل شویو درسي کتابونو شمېر | ۳,۷۰۰ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | یاد شوي درسي کتابونه تر اوسه پورې نه دي رارسیدلي |
| ۵.٦ | د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود د ٦۵۰ ټوکه درسي کتابونو ویش؛ | د وېشل شویو درسي کتابونو شمېر | ٦۵۰ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | |
| ۵.۷ | په نورستان ولایت کې د استهلاک شویو کتابونو د لیلام چارو تعقیبول او د ولایتونو د نشراتو مدیرانو له لورې د کارونو د پړاوونو بشپړول؛ | د ولایت په کچه د لیلام شویو کتابونو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه د پوهنې وزارت څخه کوم هدایت نه دی راغلی. |
| ۵.۸ | د عملیاتي پلان د ترتیب او پلې کولو په برخه کې د نورستان ولایت کارکوونکو د ظرفیت لوړولو په موخه د روزنیزو ورکشاپونو په لاره اچول؛ | تر پوښښ لاندې ولایتونو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | د پوهنې وزارت له لورې نه دی تر سره شوی. |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۵. ۹ | د پلټنې په برخه کې دنورستان ولایت کارکوونکو لپاره د روزنیزو پروګرامونو په لاره اچول؛ | د روزل شویو ولایتي کارکوونکو شمېر | ۵ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | ولایتي کارکوونکو لپاره روزنیز پروګرام د پوهنې وزارت لخوا په لاره نه دی اچول شوی |
| ۵. ۱۰ | د اړونده پروګرامونو د رسولو په موخه نورستان ولایت ته د دعوت او ارشاد ریاست د کارکوونکو سفر کول. | د پلان شویو سفرونو شمېر | ۲ | ۱ | ۵۰٪ | | ✓ | | | | |
| **دویمه برخه: انډولیز لاسرسی** | | | | | | | | | | | |
| **۱. ښوونه او روزنه** | | | | | | | | | | | |
| ۱. ۱ | د ترسره شوِي تحقیق سره سم په ښوونځیو کې د ښوونکو د غیرحاضرۍ د کمولو په موخه د پالیسۍ ازمايښتي تطبیق؛ | د پالیسۍ د ازمایښتي تطبیق سلنه | ۱۰۰ ٪ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | یاد فعالیت په اړه تر دی دمه پوري د مرکز څخه کوم کړنلاره ندی راغلی. |
| ۱. ۲ | دنورستان ولایت په کچه د ښوونکو د مسلکي پراختیا په موخه د اړونده پروګرامونو د تطبیق له څرنګوالي څخه څارنه؛ | تر پوښښ لاندې ولایتونو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه پوهنې وزارت څخه اړوند پروګرامونو تطبیق په موخه څوک نه دي راغلي. |
| ۱. ۳ | د فزیک، کېمیا، بیولوژي، ریاضي او محیطي ساینس په برخو کې د شته کمپیوټر لبو او لابراتوارونو تجهیزول او رامنځته کول؛ | په ولایتي کچه د ایجاد شوو لابراتوارونو شمېر | ۳ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | د بودیجي کمښت له امله یاد فعالیت نه دی ترسره شوی. |
| | | د تجهیز شوو لابراتوارونو شمېر | ۳ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | |
| | | د تجهیز شوو کمپیوټرلب شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | |
| ۱. ۴ | په دولتي ښوونځیو کې د نورستان ولایت په کچه د ۶۸۳۱ جدیدالشمول زده کوونکو جذبول؛ | دنارینه جذب شوو جدیدالشموله شمېر | ۴۱۶۰ | ۳۰۰۴ | ۷۲٪ | | ✓ | | | په دی سره به زده کوونکي خپل حقوقو څخه برخمن شي. | |
| | | د ښځینه جذب شوو جدیدالشموله شمېر | ۲۶۷۱ | ۲۷۰۰ | +۱۰۰٪ | ✓ | | | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱.۵ | د نورستان ولایت په کچه د۲ بابه نویو ښوونځیو تأسیس؛ | د تأسیس شوو ښوونځیو شمېر | ۲ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | د بوديجې کمښت له امله د اساسي او ثانوي زده کړو رياست لخوا ياد فعاليت نه دی ترسره شوی. |
| ۱.٦ | په نورستان ولایت کې د اړوندو ادارو سره د پخوانی همغږی پر بنسټ د منځني دوري ښوونځيو د لومړنيو ښوونځو لېسي ښوونځيو ته د منځنيو ښوونځيو لوړول؛ | له لومړنيو څخه منځنيو ښوونځيو ته د لوړ شوو نارينه ښوونځيو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | د پوهنې رياست اړوند پوهنې آمريتونو له لوري د ښوونځيو لوړولو په موخه کوم وړانديز نه دی شوی ځکه چې په ښوونځيوکې د تشکېل کمبود له وجې د ښوونځيو لوړولو لپاره معيار ندی پوره شوی. |
| | | له لومړنيو څخه منځنيو ښوونځيو ته د لوړ شوو ښځينه ښوونځيو شمېر | ۰ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | |
| | | له لومړنيو څخه منځنيو ښوونځيو ته د لوړ شوو مختلط ښوونځيو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | |
| | | له منځني څخه ليسې دوري ته د لوړ شوو نارينه ښوونځيو شمېر | ۲ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | |
| | | له منځني څخه ليسې دوري ته د لوړ شوو ښځينه ښوونځيو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | |
| | | له منځني څخه ليسې دوري ته د لوړ شوو مختلط ښوونځيو شمېر | ۱ | ۰ | ٪۰ | | | ✓ | | | |
| ۱.۷ | جلا کول، د نوم بدلول، ادغام، د جنسيت بدلون، د اقليم بدلون او په نورستان ولايت کې له يوه ځای څخه بل ځای ته د ښوونځيو انتقال؛ | د تجزيه شوو نارينه ښوونځيو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | پوهنې رياست اړوند آمريتونو له لوري کومه غوښتنه نده شوې. |
| | | د هغودولتی ښوونځيو شمېر چې نوم يې بدل شوی | ۱ | ۳ | +۱۰۰٪ | ✓ | | | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | د مدغم شوو ښوونځیو شمېر | ۱ | ۰ | ۰٪ | | | ✓ | | | |
